موږته دا سلام مبين دين ښيي چې دچاروپه تنظيم کې بايد په قرآني نصوصو يا نبوي ارشاداتو عمل وشي اوکه چېرې په قرآن يا احاديثو کې دکومې چارې په اړه څه بحث نه وي شوی نوبيادي ديوخو مصلحو مسلمانانو په مشوره يوکر ترسره شي ترڅوهغه عمل دنيوي او اخروي ثمره ولري

درنو لوستونکو !هدف مودادی چې دلته دمشوري په شرعي حيثيت او اهميت بحث وکړم دابحث به ان شاءالله په شپږو برخو وويشو

لمړۍ برخه : دشوری يامشوري تعريف

دشوری يامشوري دلفظ معنی ده مصلحت پلټنه ، يعني په يو داسي معامله کې چې هغه دفکر کولو قابله وي دخلکو رايي حاصلول نورکه هغه ترحکومتي کارونو پوري اړه لري يا کوم نورځانګړي امورو پوري.

دوهمه برخه : دمشوري شرعي حيثيت

دمشوري شرعي حيثيت دا دی چې په هر داسي کار يا معامله کې چې په هغې کې مختلفې رايې کيدلی شي په هغې کې ديوبل څخه مشوره اخستل دنبي کريم صلی الله عليه وسلم اودصحابه کرامو رضی الله عنهم سنت اوپه دنيا اوآخرت کې دبرکتونو باعث ده.

په قرآن کريم اوګڼ شميرا حاديثو کې ددې تائيد شوی ، دقرآن کريم دآل عمران په سورة کې الله تعالی نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته ارشاد کوي : وشاورهم فی الامرفاذا عزمت فتوکل علی الله ۵۹آية،ژباړه : اومشوره کوه له دوئ [صحابه کرامو]سره په کارکې نوکله چې دي قصدوکړ [ددغه کار] نوبيا توکل کوه پرالله تعالی باندي.

همدارازدقرآن کريم په سورة الشوری کې الله تعالی دصالحو بندګانو په صفاتوکې دمشوري کول داخل کړي اوداسي فرمايي: وامرهم شوری بينهم :ژباړه: اوددوئ [صالحوبندګانو] هرکارپه مشوره سره وي

يعني يوصفت دربښتوني مؤمنانو دادی چې په خپل مينځ کې مشوره سره کوي ، همدارازدپه ځينوځايو کې پهضمني طور سره الله تعالی دمشوري هدايت فرمايلی لکه درضاعت په احکامو کې چې فرمايي: عن تراض وتشاور ، يعني کوچنی له تې څخه پريکول دمورا وپلاردواړوپه مشوره اورضامندي سره په کارده.

همداشان علامه بيهقي په شعب الايمان کې له حضرت عبدالله ابن عمررضی الله عنه څخه روايت کړی دی چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: کوم څوک چې ديوه کارارادهوکړي اوديوبل سره دمشوري کولو وروسته يې دهغه کاردکولو يادنه کولو فيصله وکړه نودالله تعالی له طرفه څخه ده ته دصحيح اوفايده مند صورت وطرفته هدايت حاصليږي

اوپه يوبل حديث کې راغلي دي چې کله ستاسو حاکمان په تاسو کې ښه خلک وي اوستاسو مالداران سخيان وي اوستاسو معاملي ديوبل په مشوره باندي سرته رسول کيږي نوستاسو دپاره پرزمکه سربيره اوسيدل غوره دي

اوکله چې ستاسو حاکمان په تاسو کې ترټولو ناکاره خلک وي اوستاسومالداران بخيلان وي اوستاسو معاملي ښځوته سپارل شوي وي نودځمکي دننه دفن کيدل به ستاسو لپاره ترژوندي اوسيدلو ښه اوغوره وي.

مطلب دادی چې کله پرتاسو هوس پرستي غالبه شي چې له ښه اوبد ، نفع اوضرر څخه نظر قطع کړئ اویواځي دښځود خوشحالولو لپاره خپلي معاملي دوی [ښځو] ته وسپارئ نوددغه وخت له ژوند څخه تاسو لره مرګ ښه دی

دحدیث مطلب دانه دی چې له ښځو څخه رایه اخستل منع دي بلکه مطلب دادی چې مشوره مو په امورو کې منتفي اونیستي شي .

درپیمه برخه : مشوره باید په کومو شیانو کې ترسره شي ؟

باید پوه شو چې مشوره یواځي په هغه شیانو کې سنت ده دکومو په باره کې چې په قرآن کریم او احادیثو کې قطعي حکم موجود نه وي ، اوپه کوم ځای کې چې واضح او قطعي حکم وي په هغې کې له چاسره دمشوري کولو ضرورت نشته بلکه جائزهم نه ده

دبیلګې په ډول که یوڅوک په دي کې مشوره کوي چې لمونځ وکړم اوکنه ؟ زکات ورکړم اوکنه ، حج وکړم اوکنه ؟ نوداد مشوري شیان نه دي ،دا په شرعي طور سره قطعي فرض دي ، البته په دي کې مشوره کولی شي چې حج ته په دي کال کې لاړشم اوکه په راتلونکي کال کې ، اوداسې نور ...،همدا ډول دزکات په معامله کې داسي مشوره کولی شي چې دا په کوم ځای کې اوکومو خلګوته ورکړي ، ځکه چې داتولي خبري شرعا اختیاري دي ، په یوه حدیث کې خپله له نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه داتشریح نقل شوي ده ، حضرت علی کرم الله وجهه فرمایي : چې مارسول الله صلی الله علیه وسلم ته عرض وکړچې ستاسو څخه ورو سته که موږته څه داسي معامله راپېښه شي چې دهغې حکم په ډاګه سره په قرآن کریم کې نه وي نازل شوی او ستاسو څخه موهم په دي باره کې کوم ارشاد نه وي اوریدلی نو موږ به څه کوو ؟ نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چې دداسي کار دپاره په خپلو کې عابدین فقهاء جمع کړئ اودهغوئ په مشوره ددغه کار فیصله وکړئ ، دیوچا په یواځي رایه فیصله مه کوئ.

له دي حدیث څخه په ډاګه معلومه شوه چې مشوره به په داسي کارکې کوله کیږي چې په هغه کې واضح شرعي نصوص نه وي موجود

څلورمه برخه : مشوره باید له چاڅخه واخستل شي ؟

په دي باره کې علامه خطیب بغدادي دابوهریرة رضی الله تعالی عنه په یوه حدیث کې درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه داسې ارشاد نقل کړی دی: استرشدوا العاقل ولاتعصوه

فتند موا ، ژباړه: له هوښيارا و امين سړي څخه مشوري ترلاسه کوئ او دهغه خلاف مه کوئ کنه نو پښېمانه به شئ.

همدارازپه يوبل حديث چې طبراني له حضرت علی رضی الله عنه څخه نقل کړی دا سې راغلي: المستشار مؤتمن اذا استشير فليشره بما هو صانع لنفسه ،ژباړه: له کوم سړي څخه چې مشوره وغوښتله شي هغه به امين وي او په دغه مستشار باندي لازمه ده چې دخپل ځان له پاره څه غوره کوي هغه به دغه مشوره غوښتنکي ته وايي او که حق يا واقعيت خلاف مشوره ورکړي نو خيانت کوي.

له دغه احاديثو څخه معلوميږي چې دمجلس شوری په ارکانو کې دوه صفتونه ضروري دي يو دا چې عقلمند به وي او دوهم دا چې عابد او متقي به وي او که چيرته داعمل يوه شرعي مسئله وي نو بيا ورته فقيه والی هم ضروري دی

پنځمه برخه : په اسلامي حکومت کې دمشوري درجه څه ده ؟

لکه چې مخکې موذکر کړل په قرآن کريم کې دوه ځايه دمشوري کولو ښکاره حکم راغلی دی يو په سورة آل عمران او بل په سورة الشوری کې او په دي دواړو کې دمشوري له لفظ سره دامر لفظ هم ذکر شوی او امر مهتم بالشان قول او فعل ته ويل کيږي يعني هغه فعل او قول چې اهتمام او غمخوردګي پې کول کيږي او دحکم او حکومت په معنی هم استعماليږي ، په هرصورت که دامر هره معنی واخلي نو دحکومت په معاملو کې مشوره کول له دي آيتونو څخه ضروري معلوميږي، ولي که له امر څخه او له معنی واخلي نو دحکومت معاملي خو ترنورو معاملو زياتي مهمي دي او که دوهمه معنی ورڅخه مراد شي نو بيا خو ښکاره خبره ده ځکه چې دامر معنی حکومت دی ،

له دي وجهې دا سلامي امير لپاره ضروري ده چې دحکومت په مهمو معاملو کې دهوښيارانو او علماؤ څخه مشوره واخلي ، همداشان په تېرو شويو آيتونو کې دا سلامي حکومت يو څه بنيادي اصول هم راته څرګند شول چې اسلامي حکومت به يو شورايي حکومت وي ،په دي کې به دامير انتخاب په مشوره سره کول کيږي او دا به يو خندانی ميراث نه وي ، که دا سلام د دين ترخپريدو مخکې زماني ته وکتل شي نو څرګنده به شي چې دهغوئ حکومتونه پرشخصي اوو راثتي بادشاهي باندي مشتمل ؤ په دوئ کې به يو ې کورنۍ پرلکونو کروړونو انسانانو باندي په خپل قابليت او صلاحيت نه بلکه دوراثت دظالمانه اصولو

په بناء حکومت کاؤ ، انسان نوته به د پالتو حیوانانو په نظر هم نه کتل کیدل ، ددي برخلاف اسلام په حکومت کې دوراثت غیر فطري اصول باطل کړل د حکومت دامیر مقرر کول اومعزولول يې د جمهورو په لاس کې ورکړل

اسلامي قانون دخدای جل جلاله مخلوق دکسری اوقیصر اونورو شخصي حکومتونو له زور اوظلم څخه خلاص کړل ، دا سلامي قانون له مخي امیر باید داسي څوک منتخب شي چې په علم ،تقوی ، صلاحیت او سیاسي تجربه کې تر ټولو غوره وي اوبیا د امنتخب شوی امیر به هم ازاد اود خپل اختیار نه وي بلکه د اهل الرأی څخه به د مشوري پابند وي ،د قرآن کریم د ذکر شوی سورة اية اودنبي کریم صلی الله علیه وسلم اود خلفاء راشدینو کارونه پردي باندي عادلانه شاهدي ورکوي .

همدارازد حضرت عمر رضی الله تعالی عنه ارشاد دی: لاخلافة الاعن مشورة ،یعني له مشوري پرته خلافت نشته.

همدارازکنزالعمال دابن ابی شیبة په حواله لیکلي چې مشوري اوشورا ته په اسلامي حکومت کې داسي بنیادي او اساسي حیثیت حاصل دی چې که د حکومت امیر له مشوري څخه ازاد شي یاله داسي خلکو څخه مشوره اخلي چې د شریعت په بناء د مشوري اهل نه وي نو بیا د دغه امیر معزول [ګوښه] کول ضروري دي

شپږمه برخه :

که په مشوره کې رایي مختلفي شي نو د فیصلي صورت به کوم وي ؟

له قرآن کریم او احادیثو څخه داخبره نه ثابتیږي چې د اختلاف درایی په صورت کې به امیر د اکثریت په رایی باندي د فیصلي کولو پای بندوي

بلکه د قرآن کریم له ځینو اشرو او د احادیثو او د صحابه کرامو له عمل څخه داخبره ښکاره اوواضحه ده چې د اختلاف رایي په صورت کې امیر ته چې کوم اړخ غوره او قوي معلوم شي هغه اختیارولی شي نو رکه هغه د اکثریت مطابق وي یا د اقلیت ، البته امیر د خپل اطمنان د حاصلولو لپاره لکه څنګه چې په نورو دلیلونو باندي نظر کوي د غه شان چې اکثریت په یوشیئ باندي متفق شي نو د اهم د ده د پاره ځیني وخت د اطمنان باعث جوړیدلی شي .

د سورۃ آل عمران په ذکر شوي آیت باندي که فکر وشي نو په دي کې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د مشوري د حکم کولو وروسته الله تعالی داسي فرمایي فاذا عزمت فتوکل علی الله ،یعني له مشوري کولو وروسته چې دي کوم ارخ ته پخه اراده وکړه نو بیا توکل کوه ، په دي کې یې د عزمت په لفظ کې د عزم یعني د حکم د نافذولو پخه اراده کول یواځي نبي کریم صلی علیه وسلم ته منسوب کړل عزمتم یې ونه ویل چې په قصد او حکم نافذولو کې ورځخه د صحابه کرامو شرکت هم معلوم شوی وای ، له دي اشاري ځخه معلومه شوه چې له مشوري اخستلو وروسته حکم نافذول او عزم یواځي د امیر معتبر دی

همداشان نبی کریم صلی الله علیه وسلم ډیرځله د شیخینو [ابوبکر الصدیق او عمر فاروق رضی الله تعالی عنهما] رایو ته د جمهورو صحابه کرامو په مقابله کې ترجیح ورکړي ده ، تر دي چې داسي به ګڼل کیده چې ذکر شوی آیت یواځي د دي دوو تنو ځخه د مشوري اخستلو لپاره نازل شوی

حاکم په مستدرک کې په خپل سند سره د حضرت ابن عباس رضی الله عنه ځخه روایت کړی ده چې: عن ابن عباس فی قوله تعالی: وشاورهم فی الامر ، قال ابوبکر وعمر : یعنی ابن عباس رضی الله تعالی عنهما فرمایي: چې په دي آیت کې د شاورهم له ضمیر ځخه مراد شیخین دي

او د کلبي روایت له دي ځخه نور هم واضح دی: عن ابن عباس قال: نزلت في ابي بکر وعمر وکانا حواری رسول الله صلی الله علیه وسلم ووزیریه وابوی المسلمین ، ترجمه ابن عباس رضی الله عنهما فرمایي: چې دا آیة د حضرت ابوبکر او حضرت عمر رضی الله عنهما ځخه د مشوري اخستلو لپاره نازل شوی ؤ او دا دواړه حضرات د نبي کریم صلی الله علیه وسلم وزیران ؤ او د مسلمانانو د پلار په شان پالونکي ؤ

حضرت عمر فاروق رضی الله عنه به ځیني وخت چې د دلائلو په لحاظ سره ورته د عبد الله ابن عباس رضی الله عنهما رایی زیاته مضبوطه ښکاریده نو د هغه په رایه به یې فیصله نافذوله او حال داؤ چې په مجلس کې به تر ابن عباس په عمر او علم کې زیات صحابه کرام په کثرت سره موجود ؤ

منفورې څېرې او اجیر ایتلافونه !..

لطیف "عزم"

په داسې حال کې چې امریکایان په افغانستان کې نور په سلو کې ۵ فیصده هم په پوځي بریا او پرمختګ باور نلري او عملا یې له افغانستان څخه دلښکر واو تجهیزاتو په ویستلو پیل کړی ، په سیاسي میدان کې دشیطانت دغه لوی محور توندي هڅې په کاراچولي ترڅولدوی ورسته افغانان هیڅکله دارامی اوسو کالی ساه وانخلي اونه یې هم دملي وحدت شیرازه اباده او کوشیر پاتي شي .

کوم ایتلافونه اواتحادونه ، چې په اصطلاح دولسمشری دراتلونکو ټاکنو په موخه په دې ورستیو کې دامریکادلوی تالیڅتي (خلیلزاد) په ابتکار اوفرمایش په وجود راغلل اویانور په لار اوجوړیدودي ، داپه مجموع کې هغه امریکایي دام اوتلک دي چې دتیرو ۱۳ کلونو په مهال یې افغانانو ته ایښي وو خوالله تعالی شنډ ، نابود او کومه لاسته راوړنه یې نه درلوده : اوس بیا خپله هڅه کوي چې په هغه غوړیدلي دام کې افغانان راایسار اوښکیل کړي اودافغانستان دوروڼو قومونو اوملیتونو ترمنځ دتشتت اوپراګندي نوي تخمونه وشنیدي اوخدای مکړه آن دواحدافغانستان دویشلو دسیسه راپورته کړي .

دحیرانتیاځای خودادی چې خلیلزادپه افغانستان کې پرته له هغومنفور څیرواو ګوډاګیوډلوټپلو بل څوک پیدانکړل چې دافغانستان دزعامت اوبرخلیک ټاکلوپاره یې غوره کړي . بلکې بیرته یې دهغوامریکایي غلامانوپه ځلولواووینځلولاس پورې کړ چې دادری نیمي لسیزی ترینه افغانان رنځ وړي .

افغانان هغه څیري چې اوس خلیلزادپرې یوځل بیاګوتي وهلي اوبووار بیایي په افغان ولس تپل غواړي که هغه دشمال دي اوکه دجنوب دي ډیرښه یې پیژني ، ځکه همدغه دشمال ټلواله اوورسره دجنوب څوګوډاګی څیري وي اودي چې دافغانانوترمنځ یې په ځانګړي ډول دادوه لسیزې دبیلابیلو جګړوتنورونه تاوده وساتل ، له کمونیستانوسره ایتلافونه څه چې بیرته یې په افغانانومسلط کړل ، دشراوفساداوټوپک ماری کلچریې په افغانستان کې رایج وګرځاوه ، دطالبانو دامن اوسکون له داعیي اواسلامي نظام سره یې پنځه کاله جګړه وکړه ، افغانستان یې دامریکاپه شمول ۴۹ هیوادونوداشغال ګیډي ته وغورځاوه ، په ملیاردونو ډالریې دتیرو ۱۳ کلونوپه اوږدوکې چوراوپه بډه ووهل ، زرګونه جریبه دولتي ځمکي یې غصب کړي ، افغان اصیل فرهنګ اودیني ارزښتونه یې په غربیانو ، هندوانواوایرانیانووپلورل اوترټولو خطرناکه لوبه داچې اوس یې دافغانستان تجزیي ته مټي بډوهلي اوغواړي چې ، دشمال مسلمان ولسونه له جنوب اودجنوب خلک له شمال سره په دښمنیواوتربګنیو کې راګیر کړي .

تاسي وګوري امريکايانو ديوه هغه ګوند (جمعيت اسلامي) چې افغانستان په تباهی کې پې تر ټولو زيات رول لوبولی اوافغانان اوپه خاص ډول پې دشمال مومن ولسونه ټول ماهيت ، جوړښت اوموخي پيژني ړومبی پې دهغوی هربرجسته غړي ته په يوه کوراويوې ولسوالی کې يودرځن ګوندونه اودلې ټپلي جوړې کړي اوبيايې دادی د انتخاباتي درامي دمخ پيولوپاره د(ايتلاف انتخاباتي افغانستان) په نامه يوه ايتلاف ته پراخ تبليغات وکړل چې راتلونکي ټول ټاکنې دومره له اهميت څخه ډکې اومهمې دي اوضمناداخبره هم په ډاکه کول غواړي چې که امريکايان له نظامي ډګره پښې سپکوي ،ولې په سياسي ميدان کې لاهم ژمن دي اوخپل تاليښتې داسې پوائې نه پرپردي .

له بل لوري امريکايي خليلزاد په دې هم بسياونکړه اوزړه پې يخ نشو يوبل ايتلاف جوړولوته پې هم متې بدوهلي چې هدف ترې په عين حال کې دشمال ايتلاف مخالفت اوورسره مقابله ده . داسې ويل کيږي چې دغه ايتلاف له هغوخيرواو تاليښتوبنايي جوړشي چې پښتنو ته منسوب دي . چې مهم کسان پې (علي احمدجلالي ، احدي ، ارغنديوال ، اتمر ، اشرف غني) اونورامريکايي راشن خواره دي .

دغه ايتلافونه که هغه له شمالي ټلوالي په وجودراغلي اوکه دجنوب له امريکايي مزدورانوڅخه رامنځته کيږي دوی ټول دافغان ولس دوينو او شتمنيوغليمان اودعزت اوعصمت لوټونکي دي اوپه مجموع کې بيا ټول دامريکايانودګټولپاره تمويل اوګمارل شوي .

مونږ ته جنرال دوستم ، سياف ، محقق ، ارغنديوال ، قومندان عطاواحدي اوعبدالله عبدالله اوعلي احمدجلالي په خپاڼت اوله اسلام سره په دښمني کې يوخيل اوديوه خره دوه غوږونه دي . ځکه داهريوه دامريکااويهودوتر دوغوږونو پوري حلقه بګوش غلام دي . هريوپه دې لټه اوفکر کې دي چې څنګه افغانستان دامريکايانو تراشغال لاندې څوکلونه نورهم تير کړي . ځکه چې بيادډالرواشن پرې بنديزي اوارومروبه دملت محکمي اوګرفت ته ورانډې کيږي

دغلامي انتهاته تاسي وګوری چې دشمال اوجنوب ، ټول مهم اجيران دزلمی خليلزاد په يوټليفون له ترکيی ، اروپا، هندوستان اونوروهيوادونواوکونج کنارڅخه ځانونه رارسوي ، چاته وايی چې تاسي ۱۲ ډلې اوټپلي به تردې عنوان لاندې ايتلاف اعلان کړي اونوروته بياداحکم کوي چې تاسي ۱۰ ګوندونه به په دې نوم دموجوديت شعارورکړي !!

خواوس هغه وخت تيرشوی چې جنرال دوستم ، په سمتي زهرو، استادسياف په لويه ژيره اوجهادي دعوه ، اشرف غني په امريکايي رون اندې اوډاکټرعبدالله عبدالله دامير صاحب ! فقيدپه وراثت خلکوته دوکه ورکړي اوپه څوخبرودتيرودولسيزوترسره کړې غداری له خلکوهيري کړي .ځکه دوي وتلل شول اوټول خبايث پې برملا اواوس دخلکوپه ورانډې دي دوي دې په دې خبره پوه وي چې داسې يوحقپال اوډالله تعالی په دين اواسلامي احکاموتينګ اومتمسک جريان اولښکر راروان دي چې دي هيواداوولس ته به دلوی الله په نصرت ضرورنجات ورکوي اودامريکااونوروطواغيتو د دغوتاليښتوله شر اوکړاونوڅخه به پې خلاصوي .

د مورچل دارالافتاء

که دمجاهدینو دوو دلګیو ...

الاستفتاء: که چېرې دمجاهدینو دوې ډلې سره مخامخ شي اویوه په بله داسې ګمان وکړي چې دایرغلګر یادهغوئ ملګري دي ،جنګ وشي اوله یوې بلې خوا څخه څه مجاهدین شهیدان شي نوددغه شهیدانو دیت شته اوکنه اوپه قاتلینو کفاره شته اوکنه ، همداراز دغه شهیدانو ته غسل ورکول کیږي اوکنه ؟المستفتي محمدموسی کوټه.

الجواب حامدا ومصلیا وبعد :په مذکوره صورت کې د امام محمدصاحب رح رایه داده چې په دوئ باندې نه دیت شته اونه کفاره ځکه چې هري ډلې له ځان څخه دفاع کړي ، البته دغه شهیدانو ته دي غسل ورکړي ځکه دوئ دحکمي شهیدانو په حکم کې دي .

لمافی ردالمحتار۱\۷۷۰ وفي البحر عن المجتبى إذا التقت سريتان من المسلمين وكل واحدة ترى أنهم مشركون فأجلوا عن قتلى من الفريقين قال محمد: لا دية على أحد ولا كفارة لأنهم دافعوا عن أنفسهم، ولم يذكر حكم الغسل ويجب أن يغسلوا لأن قاتلهم لم يظلمهم اهـ ومفاده أنه لو كانت إحدى الفرقتين ظالمة للأخرى، بأن علموا حالهم لا يغسل من قتل من الأخرى، وإن جهل قاتله عينا لكونه مدافعا عن نفسه وجماعته تأمل. وكذا في البحر الرائق۲\۳۴۵

که دشهید بدن ترنیمایې کم ومونډل شې نو....

الاستفتاء شهید که ترنیمایی بدن [وجود] یې کم ومونډل شې نود جنازي لمونځ یې شته اوکنه ؟المستفتي محمدنعمان قندهار

الجواب حامدا ومصلیا وبعد:که دشهید وجود ترنیمایې زیات ومونډل شې یانیمایې وي خوسر ورسره وي یعني دسرخوا وي نوکه حکمي شهید وغسل ورکول کیږي اوبیادجنازي

لمونځ وربانديکول کيږي ،اوکه حقيقي شهيد و ،بياغسل نه غواړي يواځي دجنازي لمونځ وربانديکول کيږي. اوکه چيري دشهيدوجود ترينمايې کم و يانيمايې و خودپښو خوا وه نوبيا يې نه غسل شته اونه هم دجنازي لمونځ.

کمافی درمختارعلی هامش ردمحتار۱\۲۳۴ ولووجدرأس ادمی لایغسل ولایصلی بل یدفن الاان یوجداکثرمن نصفه ولوبلاراس. وکذافی بحرالرئق ۲\۳۰۵ ولووجدالاکثرمن المیت اوالنصف مع الراس غسل وصلی علیه والافلا.

دیوه مجاهدتداوي روانه وه ...

الاستفتاء: دیوه مجهد زخمي تداوي روانه وه اوروژه يې وه ،ماسپښين دوي بجې ډيرتږی شواوروژه يې ماته کړه نوکفاره وربانديشته اوکه نه ؟ المستفتي ملاعبدالغني خاک افغان

الجواب حامدا ومصليا وبعد: په مذکوره صورت کې په دغه مجاهد باندي کفاره نشته خوقضاءبه راوړی.

لمافي الهنديه: المريض اذا خاف على نفسه التلف اوذهاب عضو منه يفطر بالاجماع وان خاف زيادة العلة وامتداده فكذلک عندنا وعليه القضاء اذا افطر ، ثم يعرف ذلک باجتهاد المريض والاجتهاد غيرمجرد الوهم بل هوغلبة الظن عن امارة اوتجربة اوباخبار طبيب مسلم غير ظاهر الفسق. هنديه ۱\۲۰۷ وفي البحرالرائق ۲\۴۹۲ لمن خاف زيادة المرض الفطرلقوله تعالى فمن كان منكم مريضاًاوعلى سفرفعدة من ايام اخر.

في الموسوعة الفقهية: مادة حرف الصاد الصوم ص\ ۳۱ فالمريض الذي يخاف زيادة مرضه بالصّوم أو إبطاء البرء أو فساد عضو ، له أن يفطر ، بل يسنّ فطره ، ويكره إتمامه ، لأنّه قد يفضي إلى الهلاک ، فيجب الاحتراز عنه. وفيها بعد اسطر: فإن خاف كلّ من المريض والصّحيح الهلاک على نفسه بصومه ، وجب الفطر. وكذا لو خف أذىً شديداً ، كتعطيل منفعة ، من سمع أو بصر أو غيرهما ، لأنّ حفظ النّفس والمنافع واجب.

ولما أخرجه الإمام أحمد وابن ماجه عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامت أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَى (أَنْ لاضَرَرَ وَلا ضِرَارَ) وقال صلى الله عليه وآله وسلم- إِنَّ اللهَ يُحِبُّ أَنْ تُؤْتَى رُخَصُهُ كَمَا يَكْرَهُ أَنْ تُؤْتَى مَعْصِيَتُهُ) كذافي المشكوة

ذبیح الله "مجاهد" څو شیبې له خپل ولس سره

ښاغلی مجاهد صاحب السلام علیکم!

الله تعالي مو په دغه بې ساري او تاریخي خدمت کي لا موفق ولره! دغه کومه لړۍ چي دسوالو نو او ځوابو نو تاسو شروع کړې دا یو داسي کامیابه او تسلي بخشه سلسله ده چي دډیری افغانانو ذهنو نه یې داسلامي امارت او طالبانو اسلامي تحریک داهدافو په اړه روښانه کړي ،هیله ده چي دغه لړۍ همداسي جاري وساتئ ، زه یو څو سوالو نه لرم امید ده چي په ښه تفصیل یې را ته ځواب کړئ:

۱:ستاسو په سایټ کي موږ هره میاشت دارشاد او دعوت او جلب او جذب را پورونه ګورو چي په هغه کي ډیر دکرزي په اداره کي ولاړ کسان دهغې اداري را جلاشوي یا په کور کښیناستلي اویاهم دامارت دمجاهدینو سره دریدلي ځینو اسلحې را وړي او ځیني نور بیا بی اسلحو دامارت مجاهدینو ته تسلیم شوي ، زه غواړم چي په دې پوه شم چې ددغه کسانو دپاره چې دمخالفته لاس اخلي څه ډول اصول دي څو نور لوستونکي هم په دې اړه معلومات ترلاسه کړي ؟

ځواب : وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته !له تاسو نه هم مننه کوم چې زموږ دالړۍ تعقیبوي او زه مولا هم تشویق کړم ، ستاسو دپوښتنې په اړه باید یادونه وکړم ،چې داسلامی امارت زعیم عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله وپتیله چې دخپل هغه ولس لپاره چې ددښمن لخوا دپیسو ، تمو ، وعدو او نورو شیانو په بدل کې غولول شوی ، دخپل دین ، ولس ، ارزښتونو ،ملي ګټو او هیواد په ضد یې ددښمن طرف نیولي ، له یرغلګرو نه یي حمایت کړي او دمجاهدینو په ضد جنګول کیږي ، داتمام حجت په توګه او دخپل اسلامی مکلفیت له مخې هغو ته مخکې له دې چې په وړاندې یې جارحانه اقدام کیږي باید لومړی دعوت کړل شي ، ګوندې وي چې الله تعالي یي هدایت په نصیب کړي ، له مرګه وژغول شي ، ددښمن دګټو لپاره له هلاکته بچ کړل شي او په نهایه کې دالهی اخروی عذابه وساتل شي ،نو یې ددعوت لپاره یو

ځانګړې باصلاحیته کمیسیون دارشاد او دعوت جلب او جذب دکمیسیون په نامه تأسیس کړ ، چې لله الحمد نوموړي کمیسیون په ډیره لږه موده کې وکړای شول ډیر مزل وکړي . له ګڼو هغو هیوادوالو سره چې په مخالف جهت کې دریدلي تماسونه ونیسي ، هغوي تشویق کړي چې له خپلو دندو لاس په سر شي ، په مسلح یا غیر مسلح شکل ددښمن صف پریږدي ، خپل ژوند ، خپل راتلونکي او خپل اهل او عیال له مصیبتونو او بدنامۍ څخه وژغوري ، چې همداسې وشول ، ددغه کمیسیون په کمه کاري موده کې دتوقع خلاف په زرګونه کسان دهیواد په بیلابیلو برخو کې دحقایقو په درک سره ددښمن له صفه ووتل ، یا یې عادي ژوند غوره کړ او یا هم عملا دجهاد صف کې ودریدل ، ډیرې وسلې له همدې درکه مجاهدینو ته مهیا شوې اوهمدا راز ددښمن صف ورسره کمزورې شو ، په منځ کې یې بې اعتمادي خپره شوه ، او دنورو هغو کسانو اراده هم ورسره ماته شوه چې لاهم ددښمن په صف کې ولاړ دي ، دارشاد او دعوت جلب او جذب کمیسیون ډیر منظم کاري پرسونل لري . دخپلو کړونو لپاره یې خورا ارزښتمنه لائحه او طرز العمل جوړ کړی ، دکار اصول یې له شریعت محمدي صلي الله علیه وسلم سره مطابق دعطوفت ، نرمۍ بیا بیا ټینګار او نه ستړیکیدونکو هلو ځلو نه ډک دي ، دټول هیواد دولایاتو او ولسوالیو په سطحه یې علماء کرام، پوهان ، قومي مخور او با وجاهته اشخاص په کار ګمارلي ،له خلکو سره یې دلیدو کتو طریقه خورا آسانه ده ، هرځای ته چې امید ددې وي چې یو چاته به دعوت ورکړل شي ځان رسوي په دې لاره کې سختي ، خطرونه او تکالیف ګالي او دالړۍ ، ټولو د طمعې خلاف په ډیره چټکۍ سره روانه ده چې صرف د روان کال د جون په میاشت کې یې دهلو ځلو په نتیجه کې (۴۷۹) کسان ددښمن له صفه را ایستلي ، په حقیقت یې پوه کړي او نجات یې ورکړي ، نور هم ډیر امید شته چې په راتلونکې کې به ډیری هغه افغانان ورونه چې الله تعالي یې هدایت په نصیب کړي وي او دخیر آینده یې ورته به برخه کړي وي ، دهمدې کمیسیون دکار او دعوت په نتیجه کې به ددښمن صف پریږدي او له خپلو مجاهدینو ورونو سره به یوځای کیږي ، دافغانانو خصوصا هغو کسانو لپاره چې غواړي ددښمن صف پریږدي ، دمجاهدینو لخوا دژوند کولو اطمنان ترلاسه کړي او یا دخپل دیني مکلفیت له مخې په جهادي بهیر کې ونډه واخلي، دهغو لپاره ډیر آسانه ده چې زمونږ ددعوت دکمیسیون غړي پیدا کړي ، او تماس ورسره ونیسي ، په ولایاتو او ولسوالیو حتي په اکثرو کلو کې چې دهرمجاهد سره تماس ونیول شي هغو ددعوت او ارشاد دکمیسیون غړي ورته پیدا کولای شي او په آزاده ، خپلواکه او له مهربانۍ نه په ډکه فضا کې کولای شي خپله اندیښنه رفع کړي ،

خپل شک وباسي او دخپل ژوند ، مال او کورني دامن او امان لپاره وعده ترلاسه کړي ، ورو سته به بيا په خپل اختيار يا عادي او بې خطره ژوند غوره کړي او يا به هم دلزوم ديد سره سم دمجاهدينو سره دهمکار په توګه خپل مکلفيت ادا کړي ، اوکه يې نه غوښتل چې داسلامي امارت له صف سره يوځای شي هم په ليدو کتو کې ورته خطر نشته او کولای شي ددعوت په رابطه ، دامارت په رابطه او دجهاد په رابطه خپل شکونه او سوالونه مطرح کړي ورو سته بيا خپل اختيار لري چې څه تصميم دځان دراتلونکي په اړه نيسي ، کوم اجبار او اکراه به وربانديې نه وي بلکې صرف دښو اخلاقو ، نرمې لهجې او عطوفت دلارې به ورسره برخورد کيږي ، الله تعالی دې ددې کميسيون د مشرتابه او ټولو غړو په هلوځلو ، عمرونو او کارونو کې لاهم برکت واچوي. مننه

۲ـ پوښتنه : په الاماره سايټ کې داقتصادي کميسون اعلاميه اوادرسونه سته که څوک کومک کوي په دغو آدرسونو دي ورسره تماس کې شي، که داقتصادي کميسون په اړه هم معلومات راکړئ ،ځکه ډير خلک غواړي چې داسلامي امارت دمجاهدينو سره په مالي جهاد کې ونډه واخلي خو په اړه يې پوره معلومات نه لري؟ والسلام

پوښتونکی حاجي محمد

ځواب : څرنګه چې مونږ په مخکني ځواب کې هم اشاره وکړه ،چې داسلامي امارت اقتصادي کميسيون دټول امارت په سطحه يواځني مالي منبع ده، چې دټول امارت لپاره مالي ستونزه حل کوي اوهمدا کميسيون ده چې دهيواد دننه او بهر دټولو نيکو مسلمانانو ، مخلصو او جهاد پرورو افرادو ، تجارانو ، ټولنو او جهتونو نه اعانې او کمکونه را ټولوي او بيا يې په خورا احتياط ، ديانت داري او امانتداري سره په جهادي امورو کې په مصرف رسوي، ددې کميسيون ټول مصارف د مشرتابه لخوا منظوريږي او ديوې يوې افغاني حساب هم ورکول کيږي ، داکميسيون خورا ښه کاري ټيم لري او ټولو مسلمانانو ته ډاډ ورکوو چې ددغه کميسيون دلارې ټولې راغلې پيسې به دالله تعالي په لاره کې په جهاد کې په مصرف رسيږي او دکمک کونکو لپاره دمالي جهاد خورا ښه لاره ده ، مونږ نور هم له هيوادوالو ، تاجرانو ، بزګرو او په نړيواله سطحه دمخلصو مسلمانانو نه هيله کوو چې داقتصادي کميسيون دآدرسونو او لارښونو سره سم خپل مالي کمک جاري وساتي. مننه

ام الفضل (لبابه بنت حارث)
مادر دانشمند امت و امام تفسیر

در میان پیروان اهل کتاب چنین شایع شده بود که ظهور پیامبری جدید نزدیک شده است. آن چه سبب تأیید و تأکید این شایعات شده بود، این بود که در هر عصری، پیامبری بوده و پیامبران پشت سر هم آمده بودند و در میان آنان، مدت زمانی نبوده که پیامبری نیامده باشد.

فقط آفریدگار عالم، علم و آگاهی کامل بر انسان‌ها و درون و نیات آنان دارد و آن کسی را که می خواهد برای هدایت همه عالم بفرستد، چون برای غایت و هدفی عظیم است پس لابد باید، آن کس، انسان عظیمی باشد. قوم عرب در زمان جاهلیت، محمد را انسانی بزرگ و عظیم می دانستند و برای سیرت و روش زندگانی وی نهایت احترام را قائل بودند. اما آنان هرگز خیال نمی کردند که آینده حیات با آینده محمد ارتباط خواهد داشت و حکمت از دهان او سرازیر خواهد شد و همه جای زمین را در بر خواهد گرفت.

محمد ص امام و پیشوایی از طرف مردم نبود که آنان از وی پیروی کنند و هر جا رفت، دنبالش بروند، بلکه او نیرویی از نیروهای خیر بود و انسانی خوب و صالح در میان آنان بود. اگرچه این نیرو سبب شده بود که او در مرحله‌ای از مراحل تطور و پیشرفت در وجود انسانی، الگو و نمونه باشد. بشر قبل از زمان او تحت سرپرستی و رعایت صاحبانشان بود و به کودکی خردسال و محجور علیه می‌ماند.

سپس کودک بزرگ شد و از بند محجور بودن آزاد شد و برای تحمل سختی ها به تنهائی آمادگی پیدا کرد. و خطاب الهی، توسط محمدص، به سوی او آمد تا برایش توضیح دهد که چگونه در زمین زندگی کند و چگونه به آسمان باز گردد. و اگر محمدص بماند یا برود، این امر نقصی در اصل رسالتش ایجاد نمی کند: چون رسالت او، مایه باز کردن چشم‌ها و گوش‌ها، و روشن کردن دیده‌ها و ذهن‌ها است. و این امر در فرهنگ غنی‌اش از کتاب و سنت، قرار گرفته است.

محمدص برای این مبعوث نشد تا همه انسان‌ها را چه زیاد باشند و چه کم، پیرامون نام خود جمع گرداند، بلکه او به عنوان رابط میان مردمان و حقی که وجودشان به واسطه آن حق، صحت یافته، و نوری که آنان مقصد خود را به وسیله آن می‌بینند، مبعوث شده است.

پس هر کس در زندگی اش حق را شناخته و نوری داشته باشد که با آن در میان مردمان حرکت کند، محمدص را شناخته و زیر سایه پرچم او قرار خواهد گرفت هر چند وجود او را نبیند، و همراه او زندگی می کند: يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَكُمْ بُرْهَانٌ مِنْ رَبِّكُمْ وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكُمْ نُورًا مُبِينًا (۱۷۴)فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَاعْتَصَمُوا بِهِ فَسَيُدْخِلُهُمْ فِي رَحْمَةٍ مِنْهُ وَفَضْلٍ وَيَهْدِيهِمْ إِلَيْهِ صِرَاطًا مُسْتَقِيمًا) ۱۷۵) (النساء: 174-175.(

» ای مردم! دلیل روشن از طرف پروردگارتان برای شما آمد؛ و نور آشکاری به سوی شما نازل کردیم. اما آنها که به خدا ایمان آوردند و به (آن کتاب آسمانی (چنگ زدند، بزودی همه را در رحمت و فضل خود، وارد خواهد ساخت؛ و در راه راستی، به سوی خودش هدایت می کند.«

امروز قرار است با صحابیه جلیل‌القدری باشیم که در گرویدن به اسلام، پیشدستی کرده و جزو سابقین است . قلب پاک و صافش و فطرت سلیمش به ندای حق لبیک گفت و به سوی اسلام شتافت و لحظه‌ای تأخیر نکرد. البته صاحبان فطرت‌های سالم در پذیرش خیری که به سوی آن دعوت شده‌اند، تأخیر نمی‌کنند.

ما قرار است همراه صاحب فضل «ام الفضل» دختر حارث بن حزن بن بُجَیر، زن هلالی و آزاده، همسر عباس عموی پیامبرص، و مادر شش پسر نجیب عباس، باشیم.

نام او، لبابه است. او خواهر ام المؤمنین میمونه، و خاله خالد بن ولید و خواهر مادری اسماء بنت عمیس است.

اینک با ما بیائید تا با دل‌هایمان همراه سیرت عطرآگینش باشیم.

مادر فضائل و بزرگی‌ها

قبل از این که صفحات را برای خواندن زندگانی ام الفضل ورق بزنیم، شما را دعوت می کنیم که لحظاتی در کنار اصل و ریشه پاکی که سیادت و بزرگی آن را احاطه کرده و با مجد و بزرگی از تمامی جوانبش درخشان شده، توقف کنیم. شوهرش، عباس (عموی رسول الله ص (بزرگ و سید بنی‌هاشم است. کسی که به همسایه کمک می کرد و برای رفع نیازمندی ها و سختی های مردم، مال و دارائی اش را می بخشید و برهنه را لباس می‌پوشانید و گرسنه را خوراک می‌داد.

پسرش، دانشمند امت و مفسر قرآن، «عبدالله بن عباس» م است.

ام الفضل، غیر از عبدالله، فضل و عبیدالله و قثم و معبد و عبدالرحمن و ام حبیبه را برای عباس به دنیا آورد و از میان فرزندانش به «فضل» کنیه گرفت.

عبیدالله بن یزید هلالی راجع به ام الفضل می گوید : ما ولدت نجیبة من فحل بجبل نعلمه أو سهل » هر فرزند نیک دانا همانند کوه یا دشت که ما آن را می دانیم. از آن زن نجیب به دنیا آمده « کسته من بطن أم الفضل أکرم بها من کهلة و کهل» از شکم ام الفضل، پوشیده شده و از سوی زن و مرد خردمندی، مورد اکرام قرار گرفته است « عم النبي المصطفى ذي الفضل وخاتم الرسل، وخير الرسل»

آن مرد خردمندی که عموی پیامبر مصطفی، صاحب فضل و خاتم و برتر پیامبران است.«

از میان خواهرانش، شریف ترین و نجیب ترین شان، میمونه بنت حارث، ام المؤمنین، همسر پیامبر ص است . که آن حضرت در سال ششم هجری با وی ازدواج نمود . میمونه از زنان بزرگ بود . از میان دیگر خواهرانش، می توان لبابه صغری، عصماء، عزه و هزیله نام برد که همگی دختران حارث هستند.

از میان خواهران مادری اش هم می توان اسماء و سلمی و سلامه دختران عمیس از طایفه خثعمی را نام بُرد . بعضی گفته اند که زینب بنت خزیمه هلالی همسر پیامبر ص خواهر مادری آنان بوده است.

ام الفضل خاله «خالد بن ولید « است؛ کسی که پیامبر ص درباره اش فرموده: «خالد بن ولید شمشیری از شمشیرهای خداوند است که بر مشرکان کشیده است.«

و ابوبکر درباره اش گفته است: «زنان عاجز مانده اند از این که کسی مثل خالد را به دنیا آورند»آیا پس از این فخر و بزرگی، فخر و بزرگی دیگری هست؟ و آیا پس از این همه مکارم و فضائل، فضیلت دیگری هست؟

گرامی ترین مردم از لحاظ دامادی به مادر ام الفضل آن پیرزن حرشی، گرامی ترین مردم از لحاظ دامادی می گفتند: چون میمونه همسر پیامبر ص بود: عباس با خواهر شقیقی میمونه، یعنی لبابه ازدواج نمود؛ حمزه با خواهر او به نام سلمی ازدواج کرد: جعفر بن ابی طالب هم با خواهر شقیقش، اسماء ازدواج کرد. پس از جعفر، ابوبکر با او ازدواج کرد و پس از ابوبکر، علی با او ازدواج نمود.

خواهران مؤمن

پیامبر ص برای ام الفضل و خواهرانش، گواهی داده که مؤمن اند: آنجا که فرمود : «این چهار خواهر : میمونه، ام الفضل، سلمی و اسماء بنت عمیس، خواهر مادری شان، همگی مؤمن اند.«

این چه شهادت عظیمی است که از دهان انسان راستگوئی خارج شده که از روی هوی و هوس سخن نمی گوید.

ام الفضل از زنان پیشگام به سوی اسلام بود

وقتی خورشید اسلام بر سرزمین جزیرة العرب درخشید و وحی بر پیامبر ص فرود آمد، صاحبان دل‌های پاک و فطرت‌های سالم و درست، به سوی اسلام روی آوردند و از بهترین مخلوق، حضرت محمدص پیروی کردند. پس اولین کسی که از میان زنان اسلام آورد، خدیجهک بود. به نظر شما کدام صحابیه جلیل القدر، پس از خدیجه اسلام آورد؟

جواب این است: که آن زن، ام الفضل، میهمان گرامی ما، است. امام ذهبی می گوید: گفته شده که از میان زنان، کسی قبل از خدیجه اسلام نیاورد.

سپس ام الفضل اسلام آورد و در مقدمه آن قافله مبارکی بود که خداوند، افراد آن قافله را مدح نموده می‌فرماید: وَالسَّابِقُونَ الأَوَّلُونَ مِنَ المُهَاجِرِينَ وَالأَنصَارِ وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُم بِإِحسَانٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنهُم وَرَضُوا عَنهُ وَأَعَدَّ لَهُم جَنَّاتٍ تَجرِي تَحتَهَا الأَنهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ذَلِكَ الفَوزُ العَظِيمُ (۱۰۰) (التوبه:100).

» پیشگامان نخستین از مهاجرین و انصار، و کسانی که به نیکی از آنها پیروی کردند، خداوند از آنها خشنود گشت، و آنها (نیز) از او خشنود شدند؛ و باغهایی از بهشت برای آنان فراهم ساخته، که نهرها از زیر درختانش جاری است؛ جاودانه در آن خواهند ماند؛ و این است پیروزی بزرگ.«

صبر و پایداری

به محض این که قریش از اسلام آوردن یاران پیامبر ص مطلع شدند، حملات وسیعی از شکنجه و اذیت و آزار را متوجه آنان ساختند تا از دین‌شان دست بردارند. ام الفضل صحابه را می دید که شکنجه و اذیت و آزار می‌شوند، و به خاطر این که کاری از دستش بر نمی‌آمد، گریه می کرد.

وقتی این آیه نازل شد: وَمَا لَكُم لَا تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالمُستَضعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ وَالوِلدَانِ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَخرِجنَا مِن هَذِهِ القَريَةِ الظَّالِمِ أَهلُهَا وَاجعَل لَنَا مِن لَدُنكَ وَلِيًّا وَاجعَل لَنَا مِن لَدُنكَ نَصِيرًا (۷۵) (النساء» .(75: چرا در راه خدا، و (در راه) مردان و زنان و کودکانی که (به دست ستمگران) تضعیف شده اند، پیکار نمی کنید؟! همان افراد (ستمدیده‌ای) که می گویند:

» پروردگارا! ما را از این شهر (مکه)، که اهلش ستمگرند، بیرون ببر! و از طرف خود، برای ما سرپرستی قرار ده! و از جانب خود، یار و یاوری برای ما تعیین فرما.«!

ابن عباس(پسر ام الفضل) می گوید: من ومادرم از درماندگان و مستضعفان بودیم.

وقتی پیامبر ص به یارانش اجازه هجرت به مدینه را داد، ام الفضل نتوانست همراه مهاجران، هجرت کند، چون شوهرش عباس هنوز اسلام نیاورده بود. بعضی می گویند: او قبل از هجرت، اسلام آورده، اما اسلامش را آشکار نکرده بود.

موضع‌گیری جالب شوهر ام الفضل در روز عقبه

علی‌رغم این که شوهر ام الفضل «عباس» هنوز بر دین قومش بود، اما در روز بیعت عقبه دوم موضع گیری جالب و خوبی با پیامبر ص داشت.

از کعب بن مالک رضي الله عنه در ماجرای بیعت عقبه دوم روایت شده است که می گوید: «آن شب همراه قوم خودمان خوابیدیم، تا این که یک سوم شب گذشت و پس از آن به سوی میعادگاه جهت دیدن رسول خدا ص رفتیم. تا این که در شعب کنار عقبه جمع شدیم. ما هفتاد و سه مرد بودیم و دو زن هم به نام های «نسیبه بنت کعب»، همان ام عماره یکی از زنان بنی مازن بن نجار، و «اسماء بنت عمرو بن عدی بن نابی»، همان ام منیع یکی از زنان بنی سلمه همراهمان بود.

کعب بن مالک می گوید: پس در شعب جمع شدیم و منتظر رسول الله ص بودیم تا این که آن حضرت به همراه عباس بن عبدالمطلب آمد. عباس آن روز بر دین قومش بود اما دوست داشت همراه برادرزاده‌اش حضور داشته باشد و مواظب او باشد. وقتی پیامبر ص نشست، ابتدا عباس بن عبدالمطلب سخن گفت. او گفت: ای جماعت خزرج!. راوی می گوید: عرب‌ها به طایفه اوس و خزرج، خزرج می گفتند. می‌دانید که محمد از ماست و ما او را در مقابل کسانی از قریش که متعرض او شده‌اند حمایت کرده‌ایم. او از طرف قوم خود، مورد حمایت و پشتیبانی قرار می گیرد و در شهر خود، هیچ گزند و آسیبی به او نمی‌رسد. او فقط قصد داشته که به سوی شما بیاید و به شما بپیوندد. پس اگر شما می‌خواهید که بعدا او را سرافکنده کنید و او را تحویل دشمن دهید، از همین حالا او را رها کنید، چون او از طرف قوم و سرزمین خود در امان است.

این چنین عباس خواست که به برادرزاده‌اش «رسول الله ص» اطمینان خاطر دهد تا بدین صورت جایگاه و قدر و منزلت خود را در قلب پیامبر ص بالا برد.

به سوی مدینه منوره

ام الفضل تا پس از صلح حدیبیه همراه عباس در مکه ماند. وقتی رسول خدا ص و مسلمانان همراهش جهت قضای عمره به مکه رفتند و سه روز در آن جا ماندند، پیامبر ص از میمونه خواهر ام الفضل، آن بیوه‌زنی که

شوهرش ابورهم بن عبدالعزی وفات یافته بود، خواستگاری نمود . میمونه اسلام و ایمان آورده بود ولی شوهر قبلی‌اش، مشرک بود و میمونه در خانه خواهرش ام الفضل، تحت سرپرستی عباس، زندگی می کرد.

سپس همگی از مکه خارج شدند، و هجرت عباس و ام الفضل با همه اعضای خانواده‌اش صورت گرفت.

در مدینه، ام الفضل نزدیک خانه رسول خداص بود و همیشه نزد او می‌آمد. خواه آن حضرت نزد خواهر ام الفضل، یعنی میمونه مادر مؤمنان، و خواه نزد دیگر همسرانش می بود. چون همگی، فضل و بزرگی ام الفضل را می‌دانستند.

این خانواده در مدینه، در کنار انصار زندگی کردند؛ انصاری که خداوند آنان را چنین توصیف نموده است: وَالَّذِينَ تَبَوَّءُوا الدَّارَ وَالْإِيمَانَ مِن قَبْلِهِمْ يُحِبُّونَ مَنْ هَاجَرَ إِلَيْهِمْ وَلَا يَجِدُونَ فِي صُدُورِهِمْ حَاجَةً مِّمَّا أُوتُوا وَيُؤْثِرُونَ عَلَىٰ أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ(۹) (الحشر: 9). «و برای کسانی است که در این سرا) سرزمین مدینه) و در سرای ایمان پیش از مهاجران مسکن گزیدند، هر مسلمانی را به سویشان هجرت کند دوست دارند، و در دل خود نیازی به آنچه به مهاجران داده شده احساس نمی کنند، و آنها را بر خود مقدم می‌دارند هر چند خودشان بسیار نیازمند باشند، و کسانی که از بخل و حرص نفس خویش بازداشته شده‌اند، رستگارانند.»

ام الفضل از زنان والا و بلندمرتبه بود و عاشق طلب علم بود. او آیات قرآن و احادیث نبوی زیادی را حفظ می کرد. و در این هیچ جای تعجب نیست، چون او مادر دانشمند امت اسلام، عبدالله بن عباس است.

عباس در روز بدر اجباراً برای جنگ می‌رود

برخی از مورخان می گویند: عباس قبل از هجرت اسلام آورد، اما اسلامش را پنهان کرد. و عده ای دیگر می گویند: او قبل از فتح مکه اسلام آورد. و قریش از جانب عباس چیزی را در دلشان احساس می کردند (یعنی در اسلام او شک می کردند) اما چیزی دستگیرشان نمی شد که ظن و گمانشان را تأیید کند به ویژه آن که او ظاهراً موافق قریش بود. در غزوه بدر قریش خواستند که شکشان را به یقین تبدیل کنند، از این رو او را با خود به جنگ بردند.

به همین خاطر پیامبرص یارانش را از کشتن عباس رضي الله عنه نهی فرمود.

از ابن عباس روایت شده است که پیامبرص به یارانش گفت: «من می دانم که افرادی از بنی هاشم و دیگران، از روی اجبار برای جنگ آمده‌اند و هیچ قصدی برای جنگ با ما ندارند. پس هر کس با یکی از افراد

بنی‌هاشم برخورد کرد، او را نکُشد. و هر کس با ابوالبختری بن هشام برخورد کرد، او را نکُشد، و هر کس با عباس بن عبدالمطلب برخورد کرد، او را نکُشد، چون او از روی اجبار و به زور برای جنگ آمده است.«

افتادن عباس به میان اسیران در روز بدر

عباس رضي الله عنه در غزوه بدر نجنگید. چون او به اجبار برای جنگ آمده بود و پیامبر ص از کشتن او نهی کرده بود. پس عباس به میان اسیران افتاد؛ از ابوالیسر روایت شده است که می گوید: در روز بدر به عباس نگاه کردم، در حالی که او مانند بت ایستاده بود و چشمانش پر از اشک بود. گفتم: خداوند جزای شرت دهد آیا با برادرزاده‌ات به همراه دشمنانش می‌جنگی؟

گفت: چه کار کرد آیا کشته شد؟ گفتم: خداوند او را نصرت و عزت می دهد. گفت: می‌خواهی با من چه کار کنی؟ گفتم: می‌خواهم تو را اسیر گردانم. چون رسول خداص از کشتن تو نهی کرده است . پس او را اسیر کردم سپس او را نزد رسول الله ص بردم.

از براء یا کسی دیگر روایت شده است که می گوید: مردی از انصار، عباس را که اسیر کرده بود، آورد و او گفت: این فرد مرا اسیر نکرد. پیامبر ص فرمود» : خداوند به وسیله فرشته‌ای گرامی تو را یاری داد.«

از ابن عباس روایت شده است که می گوید: «ابوالیسر» عباس را اسیر کرد. آن گاه پیامبر ص فرمود : چگونه او را اسیر کردی؟ گفت: شخصی مرا در این امر یاری کرد که قبل و بعد از آن او را ندیده بودم. قیافاش چنین بود. پیامبر ص فرمود: «فرشته‌ای گرامی تو را بر این امر یاری کرد.«

نگرانی پیامبر ص برای عمویش

از ابن عباس روایت شده است که می گوید: رسول الله ص شب آمد و اسیران در زنجیر بودند و آن حضرت در آغاز شب، بیدار ماند. گفتند: ای رسول خدا، چرا نمی خوابی؟ فرمود : «ناله عمویم را در زنجیر شنیدم». مسلمانان او را آزاد کردند و او ساکت و بی سر و صدا شد، و رسول الله ص خوابید.

شجاعتی بی‌نظیر

ماشاءالله این چه روزی است که ام الفضل برخاست تا این صفحه را بر پیشانی تاریخ با سطرهائی از نور بنگارد پس از آن که خداوند، پیروزی را برای مسلمانان در غزوه بدر مقدر کرده بود، ام الفضل موضع گیری ای عظیم داشت که در آن ایمان راستینش و عقیده راسخش و شجاعت بی‌نظیرش تجلی می‌یابد.

اکنون با ما بیائید تا به ابورافع برده آزاد شده پیامبر ص که موضع گیری ام الفضل در قبال دشمن خدا ابولهب را برای ما نقل می کند. گوش فرا دهیم.

از عکرمه برده آزاد شده ابن عباس روایت شده است که می گوید: ابورافع برده آزاد شده رسول خدا ص گفت: من برده عباس بن عبدالمطلب بودم و اسلام، وارد افراد خانواده ما شده بود. من و عباس و ام الفضل. اسلام آوردیم. عباس از قومش می ترسید و از مخالفت و سرزنش آنان بدش می‌آمد، از این رو اسلامش را پنهان‌می‌کرد

او اموال و دارائی زیادی داشت که در میان قومش پراکنده شده بود. ابولهب به غزوه بدر نیامد و عاصی بن هاشم بن مغیره را به جای خود به جنگ فرستاد. آنان چنان می کردند، هر کس به جنگ نمی‌رفت، کس دیگری را به جای خود می‌فرستاد.

وقتی ابولهب از شکست سخت قریش در غزوه بدر مطلع شد. خداوند، او را خوار و رسوا کرد و ما، در درون خود، احساس قوت و عزت می کردیم.

ابورافع می گوید: من، فردی ضعیف و ناتوان بودم و آب را از چاه زمزم برای مجاهدان می آوردم. به خدا من کنار چاه زمزم نشسته بودم و ام الفضل هم کنار من نشسته بود. خبر پیروزی مسلمانان و شکست دشمنان، ما را خوشحال کرد.

ناگهان ابولهب با حالتی خشمناک و شر روی آورد و در گوشه چاه نشست و پشتش به پشت من بود. در حالی که او نشسته بود، ناگهان مردم گفتند: این ابوسفیان بن حارث بن عبدالمطلب است که آمد.

ابن هشام می گوید: نام ابوسفیان، مغیره بود.. راوی گوید: آن گاه ابولهب به ابوسفیان گفت: بیا این‌جا. به جانم قسم، در نزد تو خبری هست. راوی می گوید: پس ابوسفیان کنار ابولهب نشست و مردم ایستاده بودند. ابولهب گفت: ای برادرزاده! به من بگو که وضعیت مردم چگونه بود؟ ابوسفیان گفت: به خدا قسم. با آن جماعت برخورد کردیم و آنان به میل خود افراد ما را می کُشتند و به میل خود افراد ما را اسیر می کردند.

به خدا قسم. با وجود آن، کسی را سرزنش نمی کنم. با افراد سفید بر روی اسب‌های سفید میان آسمان و زمین برخورد کردیم. به خدا قسم، آنان چیزی را پر تاب نمی کردند و چیزی هم متوجه آنان نمی شد. ابورافع گفت: با دستم گوشه سطل آب را بلند کردم و سپس گفتم : به خدا قسم. آن افراد، فرشتگان بودند. آن گاه ابولهب دستش را بلند کرد و یک سیلی محکم به صورتم زد. وی افزود: به او برجهیدم.

او مرا بلند کرد و مرا به زمین زد. سپس روی من نشست و مرا می زد. من انسانی ضعیف و ناتوان بودم. ناگهان ام الفضل به سوی چوبی از چوب‌های حجره رفت و آن را برداشت و ضربه‌ای به ابولهب زد به گونه‌ای که

سرش را زخمی کرد. و گفت: آیا این برده را در غیاب صاحبش گیر آورده‌ای و او را ناتوان کرده‌ای؟ ابوجهل با حالتی پر از ذلت و خواری بلند شد.

به خدا قسم، تنها هفت شبانه‌روز زنده ماند تا این که خداوند او را به بیماری آبله مبتلا نمود و او را کُشت) (در روایتی دیگر ابورافع برده آزاد شده پیامبر ص می گوید: خداوند، ابولهب را به بیماری آبله مبتلا نمود و او را کُشت. پس از مرگ او، پسرانش او را تا سه روز رها کردند و او را دفن نکردند تا این که جسدش، بدبو شد. و قریش از این بیماری آبله دوری می کردند همان گونه که از بیماری طاعون دوری می کردند. تا این که یکی از افراد قریش به پسران ابولهب گفت: وای بر شما! آیا شرم نمی کنید که پدرتان در خانه‌اش، بدبو شده و شما او را به خاک نمی‌سپارید؟

آنان در پاسخ گفتند: ما از دور از این زخم می ترسیم. آن مرد گفت: بروید من کمکتان می کنم. به خدا قسم، آنان برای غسلش از دور، آب را روی جسدش می‌ریختند و به او نزدیک نمی‌شدند. سپس او را به بالاترین قسمت مکه بردند و وی را به دیواری تکیه دادند، سپس او را سنگسار نمودند.

این چه شجاعت بی‌نظیری است که قلم از وصف آن، ناتوان است.

ام الفضل تنها فردی از مشرکان را نزدَو بس، بلکه دلیر و دلاور مرد آنان را زد: کسی که در موقع سختی‌ها و شدائد به او پناه می‌بردند.

اینک ام الفضل به سرور جوانان اهل بهشت شیر می دهد این، افتخار بزرگی برای ام الفضلک است. او به حسین بن علی، شیر داد: کسی که پیامبر ص راجع به او و حسن فرمودند: «حسن و حسین، سرور جوانان اهل بهشت‌اند.»

از سماک بن حرب روایت شده است که ام الفضل گفت: ای رسول خدا، در خواب دیدم که یکی از اعضایت در خانه‌ام است. آن حضرت فرمود: «فاطمه، پسری را به دنیا می آورد و تو شیر پرخیرت را به او می‌دهی». پس فاطمه، حسین را به دنیا آورد و ام الفضل او را گرفت. در حالی که پیامبر ص او را می بوسید، او روی لباس‌های پیامبر ص ادرار کرد. فاطمه به او بد گفت و او گریست. آن‌گاه پیامبر ص فرمود: «راجع به پسرم، مرا آزردی.» سپس آب خواست و کمی آب را روی اثر ادرار ریخت.( )

در روایتی دیگر آمده است: فاطمه به حسین شیر داد تا این که او حرکت کرد. آن‌گاه او را برای پیامبر ص برد و او را در دامن آن حضرت نشاند. او ادرار کرد. فاطمه به میان شانه اش زد. پیامبر ص فرمود: «به پسرم در رساندی، خداوند تو را رحمت کند.»...

موضع‌گیری عظیم پس از فتح خیبر

پس از آن که مسلمانان، به اذن خدا، در غزوه خیبر پیروز شدند و غنیمت‌ها و گنج‌هائی که در خیبر بود، به دست آوردند، عباس و همسرش ام الفضل در رساندن این خبر که همانند صاعقه بر دل‌های مشرکان بود، پیشدستی کردند

با ما بیائید تا ماجرای کامل آن را بدانیم:

ابن اسحاق می گوید: وقتی خیبر فتح شد، رسول خدا ص با حجاج بن علاط سلمی حرف زد. او گفت: ای رسول خدا، من در مکه مالی را نزد همسرم ام شیبه بنت ابی طلحه، و اموال پراکنده‌ای در میان تجار مکه دارم. پس ای رسول خدا، به من اجازه بده که برای آوردن اموالم به مکه بروم. آن حضرت اجازه این کار را به او داد. حجاج بن علاط گفت: ای رسول خدا، من ناچارم سخنی بگویم که آنان را فریب دهم و مالم را پس گیرم. آن حضرت فرمود: «اشکالی ندارد. آن را بگو». حجاج گفت: رفتم تا این که وقتی وارد مکه شدم، دیدم که افرادی از قریش به اخباری راجع به کار پیامبر ص گوش فرا می‌دهند و از همدیگر پرس و جو می کردند. به آنان خبر رسیده بود که آن حضرت به خیبر رفته بود. و آنان می دانستند که خیبر، قلعه ای محکم است و هیچ کس، توان رفتن به آن را ندارد. آنان به دنبال اخبار و اطلاعات در این زمینه بودند و از سواران سؤال می کردند

وقتی مرا دیدند، گفتند: به خدا قسم، حجاج بن علاط در این خصوص، خبر دارد. آنان از اسلام آوردن من خبر نداشتند.. به من گفتند: ای ابومحمد! به ما خبر بده، چون به ما خبر رسیده که آن را حزن، منظورشان پیامبر ص بود، به خیبر رفته و آن جا را فتح کرده، در حالی که خیبر، سرزمین یهود و قلعه ای محکم است. گفتم: این خبر به من رسیده و من خبری دارم که شما را خوشحال می کند. وی افزود: آنان به کنار شترم روی آوردند و گفتند: آن خبر چیست ای حجاج؟! گفتم: محمد شکست سختی خورده که تاکنون هرگز چنان شکستی نخورده و یارانش کشته شده‌اند به گونه‌ای که تاکنون هرگز مانند آن را نشنیده‌اید و محمد، اسیر شده است. گفتند: محمد را نمی کُشیم تا این که او را به مردم مکه تحویل دهیم و آن وقت، آنان محمد را در پیش روی خودشان در سزای مصیبتی که بر سر افرادشان آمده، بکشند. حجاج می گوید: آن گاه اینان بلند شدند و در مکه فریاد برآوردند: خبر مسرت‌بخشی به سوی شما آمده و این محمد که شما منتظر آمدنش هستید، در پیش روی شما کشته خواهد شد. حجاج می گوید: گفتم: مرا کمک کنید که اموالم را در مکه و نزد بدهکارانم جمع‌آوری کنم، چون من می خواهم به خیبر بروم و قبل از آن که تاجران به آن‌جا روند، از شکست محمد و یارانش استفاده کرده و آنها را به فروش رسانم.

پس آنان برخاستند و اموالم را به سرعت برایم جمع‌آوری کردند. نزد همسرم رفتم و گفتم: مالم را به من تحویل ده. در نزد وی مالی را به امانت گذاشته بودم. شاید به خیبر بروم و قبل از این که تاجران به آن‌جا برسند، از فرصت استفاده کرده و آنها را به فروش رسانم. وقتی عباس بن عبدالمطلب این خبر را شنید، برای پی گیری آن نزد من آمد و در حالی که من در چادری از چادرهای تجار بودم، کنارم ایستاد و گفت: ای حجاج! این چه خبری است که آورده‌ای؟ گفتم: آیا اگر چیزی به تو بگویم و فشار این خبر را از تو کم کنم، می‌توانی آن را حفظ کنی و به کسی نگوئی؟ گفت: بله. گفتم: کمی مهلت بده تا سر فرصت مناسب و در جائی خلوت تو را ببینم و آن را به تو بگویم. چون حالا همان‌طور که می‌بینی مشغول جمع‌آوری اموال هستم. حجاج می گوید: تا این که وقتی از جمع‌آوری تمام اموال و دارائی‌ام در مکه فراغت یافتم و قصد خروج داشتم، عباس را دیدم و گفتم: این سخن مرا نزد خود نگه دار و به کسی مگو ای ابوالفضل! چون من می ترسم که دنبالم بیایند) سه مرتبه این جمله را تکرار کرد) سپس هر چه خواستی بگو. عباس گفت:

چشم، این کار را می کنم. گفتم: به خدا قسم، موقعی که من به این‌جا آمدم، برادرزاده‌ات با دختر رئیس یهودیان خیبر، یعنی صفیه بنت حُیی، ازدواج کرده بود و خیبر را فتح کرده و تمامی آن‌چه کدر آن بود بیرون آورد و مال خود و یارانش شد. عباس گفت: چه می گوئی ای حجاج!؟ گفتم: آری به خدا. این خبر به‌عنوان یک راز نزد تو باشد و آن را به هیچ کس مگو. من اسلام آورده‌ام و فقط برای پس گرفتن اموالم این‌جا آمده‌ام تا این که مبادا آن را غصب کنند و بعدا به من ندهند. پس از سه روز، این خبر را فاش کن، به خدا این به نفع توست. وقتی روز سوم فرا رسید، عباس جامه‌اش را پوشید و آن را خوشبو کرد و عصایش را به دست گرفت. و ام الفضل که در نهایت خوشبختی بود، او را کمک کرد. سپس به طرف کعبه رفت، آن را طواف کرد. وقتی مردم مکه او را دیدند، خواستند او را مسخره کنند از این رو گفتند: ای ابوالفضل! به خدا این کار بدین خاطر است که سختی مصیبت را بر خود هموار کنی. عباس گفت: نه، هرگز! به خدائی که به او سوگند یاد می کنید، محمد خیبر را فتح نموده و با دختر رئیس یهودیان خیبر ازدواج کرده و تمام اموال و دارائی‌شان را فراچنگ آورده و از آنِ خود و یارانش شده است. گفتند: چه کسی این خبر را به تو داده‌است؟ گفت: همان کسی که آن خبر را به شما داده‌بود. او با حالت مسلمانی بر شما وارد شد و اموالش را گرفت و رفت تا به محمد و یارانش ملحق شود و همراه محمد باشد. گفتند: ای وای! دشمن خدا از دستمان در رفت. به خدا، اگر این را می‌دانستیم، می‌دانستیم که چگونه با وی برخورد کنیم.

سعادتی وصف‌ناپذیر

ام الفضل ابتدا می ترسید از اینکه عباس بر دین آباء و اجداد خود بماند، اما وقتی دید که شوهرش اسلام آورد و در جنگ‌ها و موقعیت‌های حساس همراه رسول خدا حضور داشت، دلش پر از سعادت و خوشی و

شادمانی شد . گذشته ازآن، وقتی قدر و منزلت و جایگاه شوهرش در قلب پیامبرص رامی شنید، بسیار شادمان می‌شد و احساس خوشبختی می کرد

این پیامبرص است که در حضور یارانش، جایگاه عمویش، عباس را اعلام می کند

از سعید بن جبیر از ابن عباس روایت شده است که مردی از انصار به پدر عباس که در زمان جاهلیت وفات یافته بود، دشنام داد. عباس یک سیلی به او زد. قوم مرد انصاری آمدند و گفتند: به خدا قسم، به او یک سیلی می زنیم همان طور که او، یک سیلی به آن مرد زده است . و خودشان را برای این کار آماده کردند. این خبر به رسول الله ص رسید. آن حضرت بالای منبر رفت و فرمود: «ای مردم ! کدام فرد، در نزد خدا گرامی تر است؟» گفتند: تو. فرمود: «عباس از من است و من از عباس هستم. مردگان ما را ناسزا نگوئید تا زندگانمان، مورد اذیت وآزار قرار نگیرند.«

آن قوم آمدند و گفتند: پناه می‌بریم به خدا از خشم و عصبانیتت ای رسول خدا ص.

از ابن عباس روایت شده است که پیامبرص عبایی را روی عباس و پسرش گذاشت سپس فرمود: «پروردگارا، عباس و پسرش را مورد مغفرت تامه خود قرار ده، هیچ گناهی را از آنان مگذار مگر این که آنها را مورد بخشایش قرار دهی و پسرش را صالح گردان.«

از عبدالمطلب بن ربیعه روایت شده است که می گوید: عباس بر رسول الله ص وارد شد و گفت: ای رسول خدا، ما وقتی بیرون می رویم، می‌بینیم که قریش با هم حرف می‌زنند، به محض این که ما را ببینند، ساکت می شوند و هیچ نمی گویند . رسول الله ص خشمگین شد، سپس فرمود» : به خدا قسم، ایمان، وارد قلب هیچ کس نمی‌شود تا این که شما را به خاطر خدا و به خاطر خویشاوندی با من، دوست بدارد.«

از سعید بن مسیب از سعد روایت شده است که می گوید: ما، در آبیاری درختان خرما همراه پیامبرص بودیم. آن گاه عباس به سوی ما آمد. پیامبرص فرمود: «این عباس، عموی پیامبر شما. سخاوتمندترین فرد قریش است و از همه آنان بیشتر صله رحم را به جای می‌آورد.«

از مطلب بن ربیعه روایت شده است که رسول خداص فرمودند: «چه شده که افرادی مرا در خصوص عباس می‌رنجانند . عموی انسان همزاد پدر او است. هر کس عباس را آزار دهد، مرا آزار داده است.«

بقیه دارد

دفتحو تسلسل

حبیب مجاهد

په دې وروستیو ورځو کې یيا دجهاد له سنګرو څخه دحق دسرسپارلو اتلانو دیسارپو فتحو او برياوو راپورونه په مطبوعاتو کې راځي . که څه هم دشمن خپلو تبليغاتو ته زور ور کړی تر څو دمجاهدينو عمليات کمرنګه کړي . خو دواقعيت په ډګر کې هغه څه پيښيږي چې ددښمن په سخته يې وسې او دمجاهدينو په بر لاسۍ شاهدي ور کوي .

دلته به هغه وګړو چې تيرو څو ورځو کې دهيواد په لرلوبر کې دمجاهدينو څو بريالیو عملياتو ته لنډه کتنه وکړو .

داګست په ۲۸ مه د چهارشنبې په ورځ په فراه کې ددښمن په سراومال دوه خورا ستر او هدفمند بريدونه تر سره شوي دي . دچهارشنبې په شپه مجاهدينو دفراه رود ولسوالۍ مرکز ته نږدې ددښمن داکمالاتي کتار ډيانکرو په يوه تم ځای بريد وکړ . چې په نتيجه کې ۴۰ په تيلو بار ټانکرونه داور خوراک او لسګونه ساتونکو او دکاروان عملې ته مرګ ژوبله واوښته .

ددې اکمالاتي کتار له منځه ورل پې له شکه په محصور دښمن چې په لرې پر تو سيمو کې پراته عسکر پې له سختو لوژيستيکي مشکلاتو او تنګلاسۍ سره مخامخ دي يو مهم بريد وو . چې نه يوازې پې دښمن ته مالي زيان درلود . بلکې ددښمن روحيه هم په کلکه ټپلې او داکمالاتو په برخه کې ددشمن ستراتيژي تنګولای شي .

دهمدې چهارشنبې په مازديګر مجاهدينو دفراه دګلستان او بکوا ولسوالیو ترمنځ دپيټاوک په سيمه کې دکورنيو چارو وزارت او دفراه دامنيه قومندانۍ دچارواکو په هغه کاروان بريدوکړ . چې دلوپې لارې دپوستو دکتلو په نيت راوتلي وو . دفراه محلي اجير چارواکي وايي چې په دې بريد کې پې ۱۵ لورپورې امنيتي منسوبين وژل شوي . چې دلوپې لارې دکنډک دارکانو رئيس همايون او دفراه داستخباراتو مرستيال بشير درآبادي هم په کې شامل دي . نور وژل شوي کسان دپوليسو او استخباراتو افسران دي چې ددې امنيتي پلاوي غړي وو . مجاهدين وايي په بريد کې ۲۲ تنه پوليس او استخباراتيان زخميان شوي او پنځه رينجر موټر پې دمجاهدينو په بريدونو کې له منځه تللي دي .

په فراه کې دې بريدونو داسې مهال زور اخيستی چې تر دې وړاندې هم ددې ولايت په مرکز او ولسوالیو کې دښمن ته په جهادي عملياتو کې درانه تلفات رسيدلي دي ، دچهارشنبې بريدونو وښوده ، چې دافغانستان په لويديځ کې دمجاهدينو عملياتي ځواک دپخوا هر کله په پر تله قوي او دښمن په خورا ضعيف او بدحالت کې قرار لري .

ددا گست د ۲۸ مې يوه بله مهمه پيښه دبادغيس دبالامرغاب ولسوالۍ دجوی گنج دپراخې سيمې فتحه وه ، مجاهدينو چې پنځه ورځې وړاندې يې په دې سيمه کې ددښمن په دفاعي پوستو بريدونه پيل کړی وو ، په دې ورځ وتوانيدل چې ددښمن ۵ پوستې فتحه او دښمن له سيمې تيښتې ته اړ کړي .

دبادغيس مجاهدين وايي په دې سخته اواوږده جگړه کې يې ددښمن محلي اجيروسلوال په کلکه ځپلي ، لسگونه عسکر يې وژل شوي ، دقومندان داود په شمول يو شمير تسليم شوي او څوتنه ژوندي نيول شوي دي ، مجاهدينو نه يوازې پوستې فتحه کړې او سيمه ازاده کړې ده ، بلکې لوی مقدار غنايم يې هم ترلاسه کړي دي ، بادغيس دافغانستان په شمال لويديځ کې دجهاد يوه مهمه سيمه بلل کيږي ، چې دښمن يې دساتلو لپاره ټول زور کاروي ، خو دې نوي جهادي فتحې وښوده چې دلته هم مجاهدين په فاتحانه دريځ کې دي .

دچهارشنبې دورځې يوه بله مهمه پيښه په غزني ولايت کې دامريکايي او پولنډي يرغلگرو په مرکزي قرارگاه داسلامي امارت دفدايي اتلانو ستر او کفر لړزوونکی بريد وو ، چې څو ساعته يې دوام درلود .

غزني ولايت يې له هغې هم سربرکال دسترو جهادي فتوحاتو شاهد پاته شوی دی ، سربرکال ددې ولايت دوه ولسوالۍ رشيدان او زنه خان دمجاهدينو لخوا فتحه شوي دي ، چې مجموعا يې دری ولسوالۍ بشپړې دمجاهدينو په ولکه کې دي ، سربرکال ددې ولايت د دهيک او زنه خان ولسوالان هم وژل شوي ، او دشلگر اربکيان هم څو ځله په ډليز شکل له منځه وړل شوي دي ، خو دتيرې ورځې فدايي بريد په دې ولايت کې په خارجي ځواکونو يو ستر او محکم بريد وو چې لا يې هم په اړه ټول جزيات نه دي افشاء شوي .

داسلامي امارت ويانډ ذبيح الله مجاهد وايي په دې ستر بريد کې ۱۱ تنو فدايانو او څو نورو همکارو مجاهدينو برخه اخيستي وه ، بريد ماسپښين ناوخته په يوه درنه موټر بم چاودنه پيل شو چې ورسره فدايان دپي آر تي په مرکز ورتوی شول او جگړې زور واخيست ، دغه جگړه چې تربيگا ناوخته پورې لا روانه وو ، داسې ښکاري چې دښمن ته په کې خورا دروند زيان رسيدلی وي .

ذبيح الله مجاهد په خپره کړې اعلاميه کې وبلي چې په بريد کې ۱۰۹ تنه ددښمن پوځي افراد چې اکثره يې پولنډيان او امريکايان دي وژل شوي ، او گڼ نور ټپيان دي ، دغه راز ديرغلگرو ۲ څرخکې ۶ ټانگونه او ۲۰ موټر هم له منځه وړل شوي دي .

ددې برید مؤثریت او دتلفاتو لوړه کچه له دې هم معلومیدلای شي ، چې په اړه يې لا هم يرغلګرو او کورنيو محلي چارواکو مطبوعاتو ته کوتلې او يوه خبره نه ده کړې ، او هره شيبه مختلفې خبرې کوي ، دغزني والي وايي په اړه کې دننه ۴۷ تنه وژل شوي چې ۴۲ يې فدايان دي ، په داسې حال کې چې دټولو فدايانو شمير ۱۱ تنه وو ، دغه راز دغزني والي وايي چې خارجيانو ته زيان نه دی رسيدلی ، خو دپولنډ ددفاع وزارت وايي چې ددوی ګڼ سر تيري ټپيان شوي دي ، په بګرام کې امريکايي خواکونو هم تراوسه په مجموع کې خپل مرګ ژوبله منلې خو شميرې يې مطبوعاتو ته په لاس نه دي ور کړي ، معمولا ددې سترو بريدونو په اړه ديرغلګرو تلفات وروسته رابرسيره کيږي ، تير کال چې په خوست کې دصحراباغ په امريکايي اډه برید وشو ، به لومړی ورځ غربي مطبوعاتو يوازې دا ووېل چې دامريکايي اډې سره نږدې دچاودنې او ډزو غږونه اوريدل شوي دي ، خو څو ورځې وروسته امريکايي مطبوعاتو وليکل چې په برید کې تر ۱۰۰ ډير امريکايي پوځيان ټپيان او ګڼ نور وژل شوي وو .

دغزني دستر برید په اړه ددښمن ګبنې نيول حالت او ګونګ مطبوعاتي دريځ په ډاګه کوي ، چې په دښمن خورا دروند برید شوی ، چې لا يې هم دخپلو تلفاتو اټکل او محاسبه سر ته نه ده رسولې .

تر دې پيښو دوه ورځې وراندې داګست په ۲۶ مه مجاهدينو مجاهدينو دکاپيسا په ټکاب کې دامريکايانو په ستره اډه يولوی برید ترسره کړه . چې لومړی دخارجيانو اډه دموټر بم په واسطه په نښه شوه او وروسته څو تنو فدايانو په بيس برېدو کړ ، په دې جګړه کې هم دښمن ته درانه زيانونه ورسيدل .

داګست دمياشتې په ۳۱ مه نيته مازديګر مهال مجاهدينو دميدان وردګ په سيدآباد کې ديرغلګرو داکمالاتو يو لوی کتار راګير کړ ، چې دسختې جګړې په پايله کې داشغالګرو ۴۲ په ټيلوبار ټانکر وسوزول شول ۱۶ نور موټر او ټانکر يې تخريب شول ، په دې جګړه کې ددښمن ۱۹ تنه کاروان ساتونکي سيکورټيان هم ووژل شول .

په هرحال دفراه ، بادغيس ، غزني ، ټکاب ، ميدان وردګو دغه راز دهلمند په نادعلي او دنورستان په برګمتال کې دمجاهدينو وروستي فاتحانه بريدونه دروان جهاد په بهير کې دفتحو ديوه نه شليدونکي تسلسل څخه پرده پورته کوي ، چې هر ورځ دمجاهدينو په نصيب کيږي .

که دغه تسلسل ته په دقيق نظر وګورو او روزانه دمجاهدينو دبرياوو واقعات تعقيب کړو ، نو په څرګنده به رامعلومه شي چې دخالدبن وليد تر مبارک نامه لاندې سپرلي عمليات په تير دوولس کلن جهاد کې دفتوحاتو له اړخه بې ساري عمليات دي ، چې په ترڅ کې يې نه يوازې په دښمن کاري بريدونه کيږي ، بلکې سيمې فتحه کيږي ، او قدم په قدم ددښمن دواک کمپله ورټوليږي .

دای کندې ولایت کې دګوډاګي دولت دشپږو پوستو قوماندان او ۹۵ مسلح عسکر داسلامي امارت له مجاهدینو سره یو ځای شول

2013/8/21 م تاریخ دای کندي ولایت دکیزاب ولسوالی مرکز کي د سنګ شیخ ،بزمي ،بومي ،مالیزو ، کندوګګ او دولسوالی دمجبس پوسته دیوه خاص ارتباط له مخې تخلیه کړل شوې او قوماندانان یې هر یو اسدالله ،سید نصرالله ،غلام سرور ،تورن دلاور ،سلطاني ،قاسمي شهام اغا چې له هزاره قوم سره تړاو لري سره له ۹۵ تنو عسکرو چې یوهاوان ۱۰ میله ثقیلان ۱۰ میله راکیټان ۹۵ کلاشنکوفونه ۲۰ عرادې موټرسائکلان ۳۵ دیرش وړې مخابرې او ګڼ شمیر مهمات ورسره ول داسلامي امارت له مجاهدینو سره یو ځای شول چې داسلامي امارت مسئلینو یې ډیر ښه استقبال او قدردانی وکړ او ددوی دا عمل یې داسلام او هیواد په ګټه وبالو او دکرزي دبې کفایته اداري پر نورو قوماندانانو یې هم ډیر وکړ چې حقایق درک کړي او داشغالګرو په خلاف دخپل هیواد دازادي لپاره ملا وتړي او له دې فاسدې اداري څخه راجلاشي اسلامي امارت به یې داعمل تقدیر کي او دوروسته یې شان به ورسره چلند وکړي.

دکابل له اداري څخه دعسکرودوادمداره تسلیمي ددې ثبوت دی چې نور هیڅوک نه غواړي دمجاهدینو خلاف دامریکا په دملا تړوجنګیږي اودکفارولپاره دخپل ولس معصوم بچیان شهیدان کړي اوداهم ثابتوي چې ډډي راتلونکی به ددیرو داسې پرمختګونو شاهدوي اوداامارت دمجاهدینولیکې به نورې هم پیاوړې شي

د مورچل ټوله

ملا موسی جان:

په ارزګان کې د جهاد او دعوت چارې په بنه توګه پرمخ ځي

درنو لوستونکو:

ارزګان ولایت چې د افغانستان د مرکزي ولایاتو له جملې دی ختیځ ته یې غزني او د زابل ولایت یوه برخه، شمال ته یې د ایکندي ولایت لویدیځ ته یې هلمند او جنوب ته یې د کندهار او زابل ولایاتو مربوطات پراته دي.

د ارزګان ولایت مرکز د ترین کوټ ښار ګوتې دی، د دې ولایت مساحت ۱۲۲۴۰ مربع کیلومتره او نفوس یې شاوخوا څلورلکه تنه دی.

د دې ولایت دولسوالیو نومونه په لاندې ډول دي.

خاص اروزګان، چوره، چارچینې، دهراوود او ګیزاب.

ارزګان د افغانستان هغه ولایت دی چې د امریکایي یرغل په پیل کې د امریکایانو ګوډاګی حامد کرزی په همدې ولایت کې راپورته شو، او د امریکایانو په ملاتړ یې حرکت پیل کړ، له هغه وروسته دا ولایت د امریکایي او نورو کفري یرغلګرو ترتسلط لاندې راغی، د اوس په دې ولایت کې همدا اوس جهادي وضعیت څرنګه دی د دې ولایت د دهراوود ولسوالۍ له یوه تن مجاهد ملا موسی جان سره مو خبرې کړې چې ستاسو توجه ورته راګرځوو.

پوښتنه: ښاغلی ملا موسی جان صاحب تاسو د اروزګان په دهراوود ولسوالۍ کې مسؤلیت لرئ، دا څو ورځې کیږي له دې ولسوالي څخه د مجاهدینو د بریالیو عملیاتو راپورونه راځي، که لومړی په دې باره کې معلومات راکړئ؟

ځواب : دهراوود ولسوالي دارزګان له هغو سيمو نه ده ، چې دښمن ورته له پيل څخه ډير متوجه دی ، په دې سيمه کې خارجيانو او داخليانو ګڼې قرارګاوې جوړې وې ، او په دې وروستيو کې يې اربکيان هم په کې ځای په ځای کړي دي ، مګر سرکال د خالد بن وليد دعمليا تو په لړ کې د مجاهدينو يو کوښښ دا وو ترڅو په دې ولسوالي کې نفوذ وکړی سيمې له دښمن څخه تصفيه کړي.

الحمد لله دالله تعالى په مرسته او نصرت مجاهدين سرکال په دې وتوانيدل ، چې د دې ولسوالي په ډيرو سيمو کې جهادي فعاليت راژوندی کړي ، دهراوود چې پخوا يې په اکثره سيمو د دښمن واک وو اوس د دښمن واک تقريبا ترشل يا ديرش فيصده سيمې پورې محدود شوی دی ، او نورې سيمې د جهادي فعاليت ترپوښتنې لاندې راغلي دي.

تاسو په دهراوود کې دوروستيو عملياتو پوښتنه وکړه ، د روان ميلادي ۲۰۱۳ م کال د اګست په ۲۱ نيټه مجاهدينو په يوه سرتاسري برید کې د دهراوود په هغه سيمو چې خارجيان ځيني تللي او په ځای يې اربکيان پرې اينبي دي برید وکړ ، چې په دې لړ کې په ورجان ، شورجی ، سنګ سلاخ ، بازګير ، دهزک ، تنګی ، شنغولی ، غارې ، او بارکي په سيمو باندې په يو ځای عمليات پيل شول.

مجاهدين وتوانيدل چې له دې سيمو څخه د دښمن عسکر پسې واخلي ، د دښمن زياتره عسکر له پوستو وتښتيدل ، او ځيني يې ووژل شول ، دعملياتو په دوهمه ورځ د سيکزي په علاقه کې د دښمن يو رينجر موټر او ۱۰ عسکر له منځه لاړل ، دغه راز د شنغولي په سيمه کې په يوه پوسته کې ګڼ شمير عسکر ووژل شول ، څرنګه چې په دې سيمو کې د دښمن عمليات ډير بريالي وو ، نو مرکزي حکومت او خارجيان په دې وډار شول چې دا سيمې به د تل لپاره د مجاهدينو لاس ته ولويږي ، نو ځکه يې د اروزګان له مرکز څخه يوه لويه قوه دهراوود ته وليږله ، چې ګڼ شمير استرالياوي عسکر هم په کې شامل وو ، خو خارجي عسکرو د پخوا غوندې په جګړه کې برخه نه اخيسته او يوازې يې داخليانو ته قومنده ورکوله .

دهراوود ته په رسيدو له دوی سره هم سخت مقاومت وشو او د پرمختګ مخه يې ونيول شوه ، اوس هم دښمن په ټول قوت هڅه کوي چې دغه له لاسه وتلي سيمې يو ځل بيا ونيسي ، خو په سيمه کې مجاهدينو ورسره ګام په ګام مقاومت کوي ، او جګړه لا هم دوام لري.

ددې عملیاتو په نتیجه کې ددښمن داخلي ځواکونو اربکیانو ته درونه زیان اوښتی او لسګونه کسان یې وژل شوي دي ، او ډیرې سیمې هم ترې ازادي شوي دي ، زمونږ په خوا کې دجګړې ترځلورمې ورځې یو ازې یو تن شهید شوی او ۲ تنه ټپیان شوي دي ، خو ددښمن یوټانګ او څو رینجر موټر هم له منځه وړل شوي دي.

پوښتنه : ستاسو په نظر ددې عملیاتو اهمیت په څه کې دی ؟

ځواب : زمونږ په نظر داعملیات څخه مهم دي ، چې دهراوود هغه سیمه ده چې یرغلګرو په کې ډیره زیاته سرمایه ګذاري کړې ده ، اربکیان یې جوړ کړي دي ، او قرارګاوې یې په کې اچولي دي ، تردې چې ددښمن د ډیر حضور له امله په تیرو څوکلونو کې دلته مجاهدینو کوم مؤثر عملیات نه شوای کولای ، مګر اوس چې مجاهدینو په دومره لویه کچه عملیات کوي ، سیمې فتحه کوي ، دا یو لوی تحول او فتحه ده ، بله داچې استرالیاوي او امریکایي ځواکونو په دې سیمه کې په داخلي عسکرو او اربکیانو باندې اعتماد کړی وو چې ددوی له وتلو وروسته سیمه ساتلی شي ، مګر دې عملیاتو وښوده چې هغوی له مجاهدینو سره مقاومت نه شي کولای.

پوښتنه : د ارزګان په نورو ولسوالیو کې سړکال جهادي وضعیت او د مجاهدینو عملیات څرنګه ارزیابي کوئ ، آیا دې خوا په نسبت کوم پرمختګ ترسترګو کیږي ؟

ځواب : دې خوا په نسبت خو ښکاره پرمختګ ترسترګو کیږي ، ځکه پخوا چې ددښمن قرارګاوې زیاتې وې ، مجاهدینو په ډیرو سیمو واک نه درلود او که به په کوم ځای برید ترسره کیده ، نو ډیر زر به ورته هوایي ځواک رارسیده ، چې د مجاهدینو پرمختګ یې له ستونزو سره مخامخ کاوو ، زما په یاد دي چې څوکاله مخکې به مونږ په کومه پوسته عملیات پیل کړل نو په ظرف د لسو یا پنځلسو دقیقو کې به ورته دخارجیانو هیلکوفترر ارسیدل ، مګر اوس الحمدلله چې خارجیان له شکست وروسته له ډیرو سیمو تښتیدلي ، د مجاهدینو شمیر دې خوا نسبت خورا زیات شوی دی ، دچارچینو ، خاص اروزګان ، چینارتو ، چورې او ګیزاب په سیمو کې ډیرې سیمې د مجاهدینو ترکنترول لاندې دي ، په روزګان کې هغه ولسوالي چې دښمن په کې ترټولو ډیر ځواکمن دی هغه ددهراوود ولسوالي ده ، مګر دلته هم اوس مجاهدین په ډلو ډلو شتون لري ، ډیرې سیمې یې ترکنترول لاندې دي.

د ارزګان په مرکز کې څه موده وړاندې د دښمن په یو ستر مرکز باندې فدایي حمله ترسره شوه ، چې دګڼو قومندانانو په شمول لسګونه عسکر چې د امریکایانو د خاص ملګري مطیع الله عسکر وو له منځه لاړل ، له دې بریالي برید سره د دښمن روحیه نوره هم کمزورې شوې ده .

پوښتنه : همدا اوس په افغانستان کې د جهادي عملیاتو ترڅنګ د دعوت پروګرام هم روان دی ، چې اسلامي امارت کوښښ کوي ، د دښمن افراد د دعوت له لارې له له دښمنۍ لاس اخیستو ته چمتو کړي ، په اروزګان ولایت کې دغه بهیر څرنګه دی ؟

ځواب : په پوره اطمینان سره ویلی شم ، چې اروزګان ولایت یو له هغو ولایاتو څخه دی چې د دعوت او ارشاد پرورګرام ډیر بریالی په کې په مخ روان دی ، زمونږ په سیمه کې یو کال پخوا داخبره د چا زړه ته نه لویدله ، چې د دښمن په صف کې ولاړ خلک به له مخالفت څخه لاس اخلي ، مګر کله چې د دعوت او ارشاد کار پیل شوی دی ، په تیرو څو میاشتو کې د دښمن خورا ستر ستر قومندانان له خپلو افرادو سره د دښمن له لیکو راوتلي دي ، خپل وسائل او وسلې یې مجاهدینو ته سپارلي او له مخالفت څخه یې لاس اخیستی دی.

دې بهیر دښمن هم له ډیرې وارخطایي سره مخامخ کړی دی ، ځکه چې دلته مکملې پوستې په بیا بیا تسلیم شوې او لوری یې بدل کړ ، دغه راز د روزګان په نورو ولسوالیو کې هم دغه بهیر روان دی ، چې د دښمن افراد په ډلو ډلو تسلیم شوي دي.

زما داټکل له مخې په تیر یو کال کې به په روزګان کې تر ۴۰۰ زیات د دښمن افراد مجاهدینو ته تسلیم شوي وي ، چې د مجاهدینو یو لوی بریالیتوب دی.

پوښتنه : ستاسو په باور ولې د دښمن افراد تسلیمیږي او که دغه بهیر همدا سې دوام پیدا کړي په دواړو خواوو به یې اغیزې څه وي ؟

ځواب : زما په نظر اول وخت کې چې کله خارجي دښمنان افغانستان ته راغلل ، نو د دوی تبلیغات خورا په زور کې وو او ډیر لږ فکره خلک یې وغولول ، او خپلو صفونو ته یې جلب کړل . مګر د وخت په تیریدو سره ټول حقائق خلکو ته روښانه شول ، او حتی د دښمن په لیکو کې ولاړ افغانان هم په دې پوه شول ، چې په افغانستان کفارو یرغل کړی دی ، دا خلک د افغانستان دودانۍ یا دملت د سوکالۍ لپاره نه دي راغلي بلکې د دوی خپل شیطاني اهداف دي ، د کرزي اداره هیڅ واک نلري بلکې یو کینول شوی ګوډاګی دی او په مقابل کې یې

جنګيدونکي مجاهدين د حق دلاري رښتيني او وفادار جنګيالي دي ، نو ټولو خلکو ته اوس حق او باطل روښانه شوی نو ځکه نه غواړي دکفر به صف کې خدمت وکړي.

زما په نظر خو که دغه بهير چې هره ورځ د قوت اخيستلو په حال کې دی همدا سې جاري پاته شي ، نو پايلې به يې دا اسلامي خوځښت لپاره ډيرې ښې او ډيرغلګرو او دهغوی دملګرو لپاره ډير تاوانې وي.

ځکه همدا اوس غربي يرغلګرو له افغانستان څخه په وتلو پيل کړی دی ، او دوی په دې ډاډمن دي چې د دوی دنده به همدغه افغان عسکر پرمخ بيايي ، خو که افغان عسکر لوری اړوي او د مجاهدينو صف ته ورځي ، معنی يې داده چې دغربيانو پروګرام له غوڅ شکست سره مخ دی ، او دا سې څه نلري چې اعتماد پرې وکړي.

پوښتنه : په پای کې که ديوه مجاهد په صفت څه پيغام لرئ ، هيله ده را سره شريک يې کړئ ؟

ځواب : زما پيغام ديوه مجاهد په حيث د دښمن په ليکو کې ولاړو کسانو ته دادی ، چې دوی دې په خپل کردار له سره فکر وکړي ، داچې دوی دکفر په صف کې ولاړ دي او دامريکايي کفارو خدمت کوي ، په دې بايد پوه شي ، چې دغه لاره يې د دنيا او اخرت د تباهۍ لاره ده ، نو ځکه نبه داده چې د خپل نجات غم وخوري ، له تباهۍ څخه ځان وساتي.

دوی وينې چې غربي اشغالګر له افغانستان څخه په تيښته دي ، نو مخکې له دې چې د خپل اولس له انتقام سره مخامخ شي او خدای مکړه په باطله لار کې ژوند له لاسه ورکړي ، بايد په خپلو بداعمالو توبه ګار شي ، الله تعالی ته توبه وکاږي ، او عملا له کفارو څخه لاره جلا کړي.

که دوی دا وايي چې مورږ ته به مجاهدين ضرر ورسوي ، نو بايد مطمئن واوسي ، چې لکه څرنګه چې د دوی دهغو نورو ملګرو چې د دعوت او ارشاد له لارې له مجاهدينو سره يو ځای شوي سر او مال يې په امن دی د دوی به هم سر ، مال او عزت په امن وي.

د افغانستان سیاست او شدید قحط الرجال

سعد عمار

د افغانستن سیاسي سیستم دومره د خلکو کمښت سره مخ دی چې سیاسي خلک یې هم ښه دولت کې وي او هم باید اپوزیشن کې.

یو کس چې هم اپوزیشن کې وي او هم دولت کې، نو د داسې هیواد نه به څوک د پرمختګ هیله وکړای شي؟

امریکا د ښځو د ازادۍ او د تلویزیون د ازادۍ لپاره غواړي د افغانستان نو معلم شي، خو امریک نه غواړي چې افغانانو ته د سیاست په میدان کې تدریس وکړي. امریکا ښه پوهیږي چې په محدودې ډلې او خلکو باندې دولت او اپوزیشن دواړه چلول به افغانستان د سالم پرمختګ نه راوګرځوي، خو کله یې هم پدې اړوند په افغانستان انتقاد ندی کړی. افغانستان باندې یوازې هغه وخت انتقاد کوي چې ښځې پارلمان کې کمې شوي او ښځې بازارونو کې کمې شوي او تلویزیونونو باندې سندرې کمې را ښکاره کیږي او داسې نور.

همدا د افغانستان دیموکراسي شوه چې یوه خاصه ډله به د ریندې واک چلوي، او هماغه ډله به هم دولت وي او هم اپوزیشن. هماغه ډله به د کمیسونونو مشران وي، هم به د شوراګانو مشران وي او هم به د کمیټو مشران. د بیت المال پیسې به یوازې په همدې خلکو ویشل کیږي او ولس ته به یوازې پاتي شوني ورکوي، هغه هم دومره چې نه پرې مړ شي نه پرې مور.

که هر څوک په چوکۍ کیناست، همدې خاصو خلکو ته به خاص امتیازات او مراعات ورکول کیږي او د عامو خلکو نه به دوي ته زیاته توجه کیږي، دینه معلومیږي چې دولت او اپوزیشن دواړه یو لاس خلک دي او د دواړو هدف دا دی چې ولس استثمار کړي او خپل جیبونه په لایتناهي شکل ډک کړي. نن دوي دي سبا به یې اولادونه وي.

افغان ولس باید د درونډ خوب نه راویښ شي، باید خپل ښه او بد وپیژني، خپل مسیر ځانته مشخص کړي، خپله اجنډا او اهداف ولري. که افغان ولس اوس هم د تیرو تجربو نه څه نشي زده کولای او خپل ځانته د پرمختګ لاره نشي غوره کولای، نو بیا د شکایت حق نلري چې وایي چې ظالم مې نور هم ظالم شو او مظلوم مې نور هم مظلوم شو. شتمن مې نور هم شتمن شو او بیوزله مې نور هم بیوزله شو. د مساوات او عدالت د قایمولو لپاره ولس باید منحیث ولس ویښ او بیدار وو

هغه صحابیه، چې ځان یې غلام ته وبانه

ژ: م ن راشد

زینب: د جحش الاسدیه لور

زینب د جحش الاسدیه لور د قریشو د ازادو میرمنو څخه شمیرل کیده او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ترور (عمه) لور او د مکې په بنځو کې ښایسته او بنکلې بنځه وه. دامیرمن د حسب او نسب له مخې د لوړې مرتبې بنځه وه. د جاهلیت په زمانه کې حسب او نسب ډیر زیات ارزښت درلوده. ځکه چې عربو دایو ستر وبار، عزت او شرافت ګڼلو او د داسې خلکو لپاره دا ډیر ستر شرم او ننګ ګڼل کیده چې د خپلې لور یا ځوی واده د داسې چاسره وکړي چې له هغوی نه په حسب او نسب کې بښکته او ټیټ وي. هغوی په دې ډیر وړې خبرې هم په نظر کې نیولې. او دایې په ذهن کې هم نه ګرځیدل چې یوه ازاده او د حسب او نسب بنځه دې دیو غلام سره واده وکړي. دغه کار د هغوی له نظره غټه ګناه وه. دغه قوم ته اسلام په خپل تلپاتې رسالت سره روښانه کړه چې : ان اکرمکم عندالله اتقاکم (سورة الحجرات) ژباړه: بیشکه عزتمند په تاسو کې پرهیزګار ان خلک دي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم په ډیر غوڅ درېځ سره د هغوی دا ټول افکار او نظریات رد کړل او ویې فرمایل چې : د عربو او عجمو ترمنځ هیڅ فرق نشته او نه هم تور په سپین باندې کوم لوړ تیا او توپیر لري مګر په تقوی سره. زید بن حارثه د رسول الله صلی الله علیه وسلم غلام وو او له هرچا ور ته ګران وو. رسول الله صلی الله علیه وسلم چې کوم خاصه مینه د هغه سره درلوده د هغې له امله یې هغه ازاد کړ او د همغه وخت د دود سره سم یې خپل ځوی وبوله او په هر ځای کې زید بن حارثه د زید بن محمد صلی الله علیه وسلم په نوم ونومول شو. د اسلام د ظهور پورې په زید بن محمد مشهور وو خو اسلام دغه رسم هم له منځه یوړ او اعلان یې وکړ چې : ادعوهم لابائهم (سورت احزاب) ژباړه : هغوی د خپلو پلارانو په نومونو راوغواړی. و ما جعل ادعیاکم ابناء کم (احزاب) ژباړه : بللې ځوی ستاسې خپل ځوی نه شي حسابیدلای. بیا له هغې وروسته زید د خپل پلار په نوم بلل کیده.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وغوښتل چې د خپلې ترور لور زینب زید بن حارثه ته په نکاح کړي. دغه قصه د خلکو غوږونو ته ورسیده او په خپلو منځونو کې یې خبرې اترې پیل کړې او په ډیره حیرانتیا به یې یو له بل څخه پوښتل چې : څرنګه یوه ازاده او باعزته میرمن دیو غلام سره واده کوي. واقعیت دی دا خبره د هغوی په منځ کې د منلو ورنه وه.

رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه پریکړه د زینب نړدې خپلوانو ته وویله . د زینب رضي الله عنها خور حمنه رضي الله عنها په دغې قضیې ډیره سخته خفه شوه او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې وویل چې : ای د الله رسوله ! ته د خپلې ترور لور یو غلام ته ور کوې؟؟

زینب رضي الله عنها هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مجادله وکړه او ور ته یې وویل چې ای د الله رسوله ! زه خو یو قریشي او ازاده میرمن یم (په هغه وخت کې قریشو یو ځانګړې امتیاز او لوړ تیا درلوده) زه هیڅکله دیو غلام سره واده کولو ته نه چمتو کیږم. رسول الله صلی الله علیه وسلم دهغې په ځواب کې وویل چې ماتا لپاره یو بهترین میړه انتخاب کړی . دغې مناقشې ترهغې دوام وکړ ترڅو دغه ایتونه نازل شو چې : وماکان لمومن ولامومنة اذاقضی الله و رسوله امراً ان یکون لهم الخیرة من امرهم ومن یعص الله ورسوله فقد ضل ضلالاً مبینا.

ژباړه: هیڅ مومن او هیڅ مومنې ښځې ته جایز نه ده چې د الله او رسول الله په فیصله کې خپل اختیار غوره کړي او چاچې د الله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم نافرماني وکړه په تحقیق سره په څرګنده ګمراهی کې اخته شو

کله چې زینب د الله دا فرمان واوریده نو ویې فرمایل چې : د الله د امر څخه سرغړونه نه کوم او زه په دغه واده باندې راضي او خوښه یم . نو په ډې کې به کومه ښځه د زینب سره پر ته شي. هغه ښځه چې په الله باندې د غره په شان ټینګ ایمان لري او د الله او د الله د رسول فرمان ته د ځان او زړه څخه تیریږي اګر که ظاهراً ددې په تاوان معلومیږي.

یوه ازاده میرمن چې په ټولنه کې ډیر ښکته مقام ولري بیاهم نه چمتو کیږي دیو غلام سره واده وکړي خو زینب چې د ازادې برسیره د ډیر ستر شرافت او عزت میرمن وه د الله امر ته حاضره شوه چې دیو غلام سره واده وکړي. دهغه وخت په ټولنه کې غلام په ټولنه د حیوان څخه هم کم ارزښت درلود خو اسلام د خلکو په منځ کې برابروالی او وروروالي رواج کړه. زینب رضي الله عنها ټولو جاهلي رسمونو او عنعناتو ته شاه کړه او د الله او د الله د رسول صلی الله علیه وسلم فرمان ته یې ارزښت ور کړ.

لنډه داچې زینب رضي الله عنها د زید بن حارثه سره واده وکړ او په خپل دغه کار سره یې ټول جاهلي دودونه له منځه یووړل. دغه بزرګوارې میرمن د نفساني غوښتنو سره مبارزه وکړه او د الله او دهغه د رسول صلی االه علیه وسلم په فرمان یې منګولې ټینګې کړې ځکه هغه پوهیده چې د الله جل شانه او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم فرامین د دا سې عظمت درلودونکی دي چې نور ټول قوانین د خپل اغیز لاندې راولي. دغې بزرګوارې میرمن د اسلام فرامین پر ځان ومنل . دهغه دین فرامین چې په عدالت او برابرۍ باندې امر کوي

مولوي ميرزامحمد "شكيب"

د توحيد علمبردار

وحشي بن حرب

((قتل خير الناس بعد محمد... و قتل شر الناس ايضا)) المؤرخون»

هغه څوک وو چې د حضرت محمدﷺ تره حضرت حمزه بن عبد المطلب رضی الله عنه يې به شهادت ورساوه، او د نبي کريمﷺ زړه يې د ده د شهادت له املهورزخمي کړ، ورو سته يې د يمامه په سخته ورځ کې د مسيلمة الكذاب په وژلو د مسلمانانو زړونه يخ کړل.

دا حضرت وحشي بن حرب الحبشي رضی الله عنه وو ، چې په أبو دسمة سره يادیدی... د ده په اړه يوه غمجنه ، سخته او زړه بوږنوونکې کيسه شته ، ته په خپله نوموړي ته غوږ شه چې دی خپله بدي په خپله درته واوروي، حضرت وحشي وايي: زه د قريشو د يو سردار حضرت جبير بن معطم غلام وم، د نوموړي تره طعيمه د بدر په ورځ حضرت حمزه رضی الله عنه په قتل رسولی وو ، حضرت جبير د ده په مړينه ډير خواشينی وو او په لات او عزی سره يې لوړه کړې وه چې د ده قاتل به وژني ، بدله به اخلي... او حضرت حمزه رضی الله عنه ته يې د فرصت شيبې څارلې.

پردې خبره ډير وخت تير نه شو چې قريشو عزم وکړ چې د أحد ميدان ته به وځو ، له حضرت محمدﷺ څخه به د هغو مړو بدله اخلو چې نوموړي په بدر کې په قتل رسولي وو.

قريشو خپل حليفان راوبلل، لښکر يې منظم کړ او ښه پوره تياری يې ونيو او د لښکر قومنده يې حضرت ابو سفيان بن حرب ته وسپارله

ابو سفیان وپتییله چي له لښکر سره باید د قریشو ځینې هغه ښځې چي پلرونه ، زامن ، وروڼه او ځینې نور خپلوان یې په بدر کې وژل شوي دي ، باید له لښکر سره یوځای کړلی شي، ترڅو د جنګ په ډګر کې د جنګیالیو غیرت راوپاروي او د لښکر د ماتیدو مخنیوی وکړي، د دې ښځو په کتار کې یوه هم د ابو سفیان ښځه (هند بنت عتبه) وه چې پلار ، اکا او ورور یې په بدر کې وژل شوي وو ، کله چې لښکر کوچیدی ، مه ته جبیر بن معطم وکتل او راته ویې ویل: ای أباد سمه !ته غواړې چې له غلامی څخه ځان وژغورې؟!

ماورته وویل: څوک به مې خلاص کړي؟

ده راته وویل: زه به دې خلاص کړم

ماورته وویل: څنګه به مې خلاص کړې؟

ده راته ویل: که دې زما د تره «طُعیمه» په بدله کې د محمدﷺ تره «حمزه بن عبد المطلب رضی الله عنه» ووژه ، ته آزاد یې ، ماورته وویل: ته به ماته څوک ضامن راکړې؟ ده راته وویل: چې ستا څوک خوښ وي اوزه پر دې خبرې ټول خلګ ګواهان ګرځوم.

ماورته وویل: زه دا کار کوم..

وحشي وایي زه یو حبشي سړی وم، د حبشو غوندې ویشتل مې زده وو چې هر شئ به مې په نښه کړ بیا نه راڅخه خطا کیدی ، ما هم سمدستي نیزه راواخیسته له لښکر سره ولاړم ، زه له لښکر څخه ورو ورو سته ښځو ته نژدې تلم ځکه زما له جګړې سره نور کار نه وؤ ، د لارې په اوږدو کې چې به کله زه د أبو سفیان پر ښځه (هند) تیریدم او یا به دا راباندې تیریده او زما په لاس کې به یې نیزه ولیده چې لمر ته برښیده ، دې به راته ویل: ته خپله سینه هم او زموږ سینه هم د دوي په وژلو سره کړه.... !

کله چې موږ أحد ته ورسیدو او دواړه لښکره سره مخامخ شول، ما هڅه کوله چې حمزه بن عبد المطلب رضی الله عنه پیدا کړم ، ما نو موږې پیژندی او دی ، هم داسي سړه نه وؤ چې له چاڅخه دې ورک شوی واي ، ځکه ده به په سر کې د طاؤس بنکې ټومبلي وې ترڅو خپلو سیالانو ته ځرګند وي. دا د زړورو عربو عادت وو چې د جنګ په ډګر کې به یې داسي کول.

ډیر ځنډ نه ووت چې حضرت حمزه رض مې ولید چې د لښکر په مینځ تویې شوی وو او خلک به یې په تورو پریکول ، د نو موږې نه چا مخه نیولای شوای او نه څوک ورته تم کیدای شوای.

کله چې ما تیاری ورته ونیو ، تر درختو او ډبرو ورځخه پټیدم ترڅو ښه رانژدې شي، په دې وخت کې د قریشو یو سپور چې سباع بن عبد العزی نومیدی ، ورته راوړاندې شو او ورته ویې ویل: ای حمزه !مبارزه را سره وکړه... مبارزه را سره وکړه...

حضرت حمزه رضی الله عنه وړاندې ورغی او ویې ویل: ای د مشرک زویه !راشه...

ماته راشه... سمدستي یې د توري ګوزار وربلندې وکړ او په خپلو وینو کې یې لت پت کړ.

په همدې وخت کې حضرت حمزه رضی الله عنه ماته دومره رانژدې شو چې ما غوښت، ماهم خپله نیزه ورته برابره کړه چې ښه مې باور شو چې نه خطا کیږي، وار مې وربلندې وکړ تر نامه لاندې مې وویشت او د شا خواته یې ووته ، ده زمالور ته دوه درې قدمه ډیر په تکلیف سره راواخیستل اوبیا پر مځکه ولوید ، نیزه یې په تن کې ښخه وه ماتر هغو نیزه په کې پرینښوده چې څو مې د ده په مړینه باور شو بیا ورغلم نیزه مې ورځخه راوکښه ، خیمو ته راغلم او کښینا ستم ، له بل چا سره مې کار نه وو ، دی مې د ځان د آزادۍ له املې شهید کړ.

د جګړې تنور ښه تود شو ، خرپ او ترپ پیل شو ، د محمدﷺ ملګري محاصره اوډیر ملګري یې ووژل شول ، په همدې حال کې هند بن عتبه د مسلمانانو پر مړو وګرځیده له شا نوري ښځې ورپسې وې ، دې د مړو اندامونه پریکول، او د مړو نسونه یې ورځیري کړل، سترګې یې ور وایستې ، پوزې او غوږونه یې ورپرې کړل

ورو سته یې د دوي د پزو او غوږونو څخه ځان ته غاړګی او غوږوالي جوړ کړل او د ځان د سرو زرو غاړګی او غوږوالي یې ماته راکړل او راته ویې ویل: ای اباد سیمه !دا دواړه ستادي؟

دا دواړه ستادي ، ځان پرې وساته ، داډیر لوړ بیه دي.

کله چې په أحد کې جګړه پاې ته ورسیده زه له لښکر سره مکې ته را ستون شوم ، جبیر بن معطم په خپله وعده وفا وکړه او زه یې آزاد کړم.

د حضرت محمدﷺ خبره ورځ په ورځ ګرمیده مسلمانان ورځ تر بلې زیاتیدل، څومره چې حضرت محمدﷺ مخ په وړاندې تلو دغومره زیاته پر مامځکه تنګیده اوزه پر ځان ډاربدم ترڅو چې حضرت محمدﷺ له خپل لښکر سره مکې ته داخلیدی زه ډاربدم

جنګي جنایتونه (اګست)

سید سعید

دروان (۲۰۱۳ز ،)کال داګست پر ۴مه نیواکګروځواکونو د میدان وردګ ولایت دمرکزمربوط په کهنه خمار سیمه ک ي دملکي هیوادوالو په کورونو چاپه وهل ې ، خلګ یې وهلي اوځورولي اوپه اخرکي یې له کورنو څخه نغدي پیسې اوګېڼې له ځان سره وړي دي.

داګست پر ۵مه اشغالګروځواکونود کندزولایت د امام صاحب ولسوالۍ دزنګ سه کپرک سیمه ک ي دخلګو پرکورنو یرغل کړی ،دتلاشي پرمهال یې خلګو ته مالي تاوانونه رسولي اواتلس تنه ملکي هیوادوال یې بندیان کړي دي.

داګست پر۷مه دزابل ولایت دشینکۍ ولسوالۍ په صدوخان کلا سیمه کي دقوماندان شیرمحمدزوی نیک یو کلیوال (محمد)چي له هیڅ طرف سره یې ملګرتیانه درلوده په خپل کورکي دننه شهید کړی دی.

داګست پر ۷مه اشغالګروعسکرود بغلان ولایت دبرکه ولسوالۍ په تنګي مرچ سیمه باندي چاپه وهلې ،اودکورونو دتلاشۍ پرمهال یې درې تنه ولسي وګړي دبندیانو په توګه له ځان سره وړي دي.

داګست پر ۷مه اشغالګروعسکرودشپنیو عملیاتو په لړکي دننګرهارولایت د چپرهارولسوالۍ په دولت زي سیمه باندي یرغل کړی ، څلورتنه ولسي وګړي یې بندیان کړي اودتلاشۍ په ترڅ کي یې دکورنو څخه ګېڼې اونغدي پیسې هم له ځان سره وړي دي.

داګست پر ۱۰مه داخلي عسکرود کابل ولایت د ده سبزولسوالۍ په اخپلندي کلي کي ملاامام ددوو کلیوالو سره بندي کړی دی.

داګست پر ۱۲مه رسنۍ خبرورکوي چې:دفراه ولایت د بالابلوک ولسوالۍ دکنج اباد په سیمه کي اربکیانو او پولیسو دطالبانو سره په سیمه کي ترجګړې وروسته ملکي وګړي په نښه کړي چې په ترخ کي یې یوه میرمن شهیده شوې اوځلورنورې ښځې اوپنځه تنه ماشومان سخت ژوبل شوي دي.

داګست پر ۱۵مه نیواکګرو پوځیانو د غزني ولایت دواغظ ولسوالۍ دخندقي پرکلي چاپه وهلې ،دګنو کورونو دروازي یې په بمونو الوزولي اویوزیات شمېر کلیوال یې له شکنجه کولو وروسته بندیان کړي دي.

داګست پر ۱۲مه د پروان ولایت د کوه صافي ولسوالۍ په ډنډرکلي کي یرغلګرود چاپې په ترخ کي درې تنه ولسي وګړي اسیران کړي دي.

داګست پر ۱۷مه د اروزګان ولایت دخاص اروزګان ولسوالۍ په بازراکي ولسي خلګود کابل اداري اړوند مشهور قوماندان (حکیم شجاعي)پرضد مظاهره وکړه ،مظاهره کونکوویل چې:«درې ورځي وړاندي دیادي شوي ولسوالۍ دکوچک په سیمه کي دشجاعي په مشري اربکیانو دیوې ماشومي په ګډون دوه تنه ملکي وګړي شهیدان کړي ترپنځوس تنه زیات ولسي هیوادوال یې شکنجه کړي ،کورونه یې ورچورکړي .اودباغونوونې یې ورکښلې دي»دغه رازد شجاعي اربکیانو ددغي ولسوالۍ دعشري ناوې په سیمه کي هم ملکي هیوادوال ځورولي اوشکنجه کړي ،ډیرکورونه یې چورکړي اولس دوکانونه یې له چورکولو وروسته سوځولي هم دي.

داګست پر ۱۸مه اربکیو نو د زابل ولایت د سیوري ولسوالۍ د پتلاخیلو دکلي ملاامام دبیلچو په وهلو سره شهید کړی دی.

داګست پر ۱۹مه اشغالګرو عسکرو د شپنیو عملیاتو په لړکي دبغلان ولایت د پلخمري ولسوالۍ دډنډغوري په احمدزیو کلي کي دعامو خلکو پر کورونو چاپه وهلې ،دتلاشي پرمهال یې خلګو ته مالي زیانونه اړولي اوپنځلس تنه ملکي هیوادوال یې له ځان سره بندیان کړي دي.

داګست پر۱۹مه خارجي اوداخلي عسکرودزابل ولایت د شاجوی ولسوالی په ډیرو کلیو (دغره لودین ،ګوډی ، سریزي ،خواجک ،پاسني اوایخاب)برغل کړی ،ډیرخلک یې شکنجه کړي اوبیاپه خپله مخه تللي دي.

داګست پر۲۰مه دمیدان وردګ ولایت د سیداباد ولسوالی په اونخي سیمه کې یرغلګرو دچاپې په ترڅ کې یو ملکي وګړی (عبدالله)شهید کړی ،دغه رنګه دهمدې سیمې په حکیم خیلو کلي باندي هم اشغالګرو چاپه وهلې ،دتلاشي پرمهال یې خلګوته زیات مالي زیانونه اړولي اوبیایې د عبدالوهاب په نامه یو کلیوال په برچو وهلی او سخت ټپي کړی دی.

داګست پر ۲۱مه نیواکګرو دکندهارولایت د میوندولسوالی په کلابنرامیرکي دحاجي عبدالخالق پرکور دچاپې پرمهال پنځه تنه ولسي وګړي بندیان کړي دي.

داګست پر ۲۲مه د زابل ولایت دشاجوی ولسوالی اړوند دجعفروپه کلي ک ي یرغلګروعسکرودمدرسي یو طالب العلم لومړی په سپیو دارلی اوبیایې په شهادت رسولی دی.

داګست پر۲۳مه د غورولایت ددولینه ولسوالی په مربوطاتوک ي اربکي ملېشو ددرې ورځني عملیاتو په مهال 150کورنۍ له خپلي سیمي څخه شړلي اودهغوی کورونه یې چورکړي ،د سیمه ییزوخلګو 600 غوایي، 700 پسونه، 60 عراده ي موټرسایکلونه یې له ځان سره وړي او12 دوکانونه یې له چورکولو وروسته سوځولي دي.

داګست پر ۲۴مه دکندهارولایت د پنجوایي ولسوالی دزنګاوات په سیمه کي اربکیانودخانانو دکلي ملاامام تښتولی وچي ،څوورځي وورسته یې په یوه خالي کورک ي مړی وموندل شو.

داګست د۲۵مي په مابنام اشغالګروعسکرودلوګرولایت د برکي برک ولسوالی په کال وچ سیمه کې دملکي خلګو یو کورونو دچاپې په ترڅ کې دوه تنه ملکي وګړي بندیان کړي دي.

داګست پر ۲۲مه د لوګرولایت دبرکي برک ولسوالی په کوتیخیل سیمه ک ي یرغلګرودچاپې پرمهال یو۸۵ کلن سپینږیری هیواد وال (رسول داد کا)شهید کړی دی.

داګست پر ۲۲مه د غزني ولایت د ده یک ولسوالی په سنګرکلي ک ي اربکي ملېشو یوولسي وګړی (محمد غني) شهید کړی دی.

داګست پر ۲۷ مه دکندز ولایت دخان اباد ولسوالۍ په مرکزي سیمه کې داربکي قوماندان (عمر) زوي او ساتونکو یې یوملکي وګړی شهید کړی دی.



داګست پر ۲۷ مه دکندهار ولایت دغورک ولسوالۍ دویشتان کلي ته ګڼ شمیر یرغلګر د عملیاتو په نامه ورغلي ،زیات شمیر ملکي خلک یې شکنجه کړي او په اخرکي یې پنځه تنه ولسي وګړي بندیان کړي دي.

داګست پر ۲۷ مه دجلال اباد ښار اړوند دخالص بابا فامیلیو کې اشغالګرو د حاجي دادو کورباندي چاپه وهلې ،یرغلګرو دنوموړي په کورکي څه خطرې توکي نه دي موندلي ،خو حاجي دادو یې د دووزامنو (عتیق الله او اکرام الله) په ګډون له ځان سره دبند ي په توګه بیولی دی.

داګست پر ۲۸ مه ماښام اشغالګرو دهلمند ولایت دنوزاد ولسوالۍ داورموزکاریز په سیمه کې دچاپې پرمهال یوولسي وګړی شهید کړی دی.

داګست پر ۲۹ مه یرغلګرو ځواکونود پکتیاولایت د سیدکرم ولسوالۍ په عثمان خېل سیمه کې دملکي خلکو پرکورونولومړی چاپه وهلې اوبیایې بمبارپرې کړی چې له املې یې درې تنه ملکي هیوادوال (دیني عالم مولوي خلیل له خپل ورور او یو تن کلیوال سره)شهیدان شوي دي.

مأخذونه:[بي بي سي راډیو ،ازادي = ،افغان اسلامي اژانس ،پژواک ،روهي ویبپاڼه ،لراوبر= ،نن ټکی اسیا=اوبینوا=]

دهلمند دشهيد روزونکي ولايت پوځي او اداري وضعيت

ميوند سادات

درنو لوستونکو !

دافغانستان داسلامي امارت نظامي کميسيون داسلامي امارت دمشرتابه په دستور په هيوادکي دمجاهدينو دجهادي فعاليتونو دنظارت اوڅارنې او دمجاهدينو ترواک لاندې ساحوکې دهغوئ اداري اوملکي چارو دانسجام اوتنظيم لپاره دهيواد ټولوولايتونوته باصلاحيته هيأتونه تعين او استخدام کړی.

اسلامي امارت غواړي چي دټول هيواد په کچه ددغو توظيف او استخدام شويو هيأتونو دکاري رپوټونو او دهغوئ دمشاهداتو اوارزونو په اساس دهيواد دپوځي او اداري چارو دلاترتيب او تنسيق لپاره داسې تدابير او تصميمونه په کار واچوي چې دهغوئ په وسيله جهادي صف لا غښتلی ،پياوړی اومنظم شي ترڅو وکولای شو دالله تعالی په نصرت او دهمدغه منظم ، مستحکم او يوموټي جهادي ځواک په وسيله خپل هيواد داشغالګرو له واکمنۍ څخه داسلام دسپيڅلې نظام دحاکميت لپاره آزاد او خپلواک کړو.

په نظرکې ده چې د دغو توظيف شويو پلاويو دکاري رپوټونو هغه برخې چې په هيواد کې دجهادي او اداري فعاليتونو موفقيت پکي منعکس اوکوم پوځي محرميت ونه لري په مسلسله توګه دالاماره ويب پاڼې او داسلامي امارت داړونده رسنيو له لارې له خپلو مجاهدو هيواد والو سره هم شريک اونشرشي.

په هيوادکې دمجاهدينو ترواک لاندې ساحو کې دپوځي او اداري فعاليتونو دڅارنې او ارزونې لپاره ددغو توظيف او استخدام شويو هيأتونو دراټول کړيو رپوټونو په سلسله کې مو

داځلې په جنوب لويديځ زون کې دهلمند ولايت لپاره د ټاکل شوي هيأت د غړيو هريو محترم (مولوي صاحب محمد مصطفی او مولوي صاحب عبدالقيوم د ترتيب کړي رپوټ نشرولو ته نوبت ورکړی چې نو موړيو وروڼو د خپل وظيفوي مسؤليت په مهال دياد ولايت دمجاهدينو دنظامي او اداري فعاليتونو او په هغې کې دماتې خوړلې دښمکن له لورې دګڼو سيمو دتخليې او هالته ورکې دمجاهدينو دواکمنۍ په اړه توضيحات ليکلي.

راځئ چې دهلمند دشهيد روزونکي او دښمن ځپونکي ولايت پوځي او اداري وضعيت د دې رپوټ په ترڅ کې په ګډه سره ولولو.

دلوي څښتن په ښکلي نامه !

دهلمند ولايت که د بشري او طبيعي جغرافيې له مخې ډير مساحت او زيات نفوس لري له نظامي پلوه هم خورا ستراتېژيک اهميت لري، ددې ولايت دلاندي کولو لپاره برتانوي او امريکايي يرغلګرو ځواکونو د پرمختللي ټيکنالوژۍ ،وسلو ،پيسو او داخلي مزدورانو په مټ ډيرې هڅې وکړې خو هرڅه يې دخدای جل جلاله په فضل په اوبولاهول شول.

مونږ دهلمند ولايت په حاصلخيزه مځکو ،وچو دښتونو او ريګونو کي دصليبي يرغلګرو په خلاف د سرښندونکو غازيانو او اتلوشزلميانو دجهادي شهکارونو او حماسو ډيرزيات يادګارونه وليدل ، په بيلابيلو سيمو کي مو دقهرمانو مجاهدينو له لوري د دښمن د سوځول شوو اکمالاتي کانټينرونو او ټانکرونو ، په ماينونو دټوټه ټوټه شوو ټانګونو ،زغره والوګاډو ،رينجرونو او مختلف النوعه نقليه وسايطو ننداره وکړه چي د سړک يوه اوبله خواليري او نژدې پاش پاش پراته وو.

دا سلامي امارت دنظامي کميسيون د پوځي تشکيلاتو له مخي په هلمند ولايت کي ۲۰۰۰۰شل زره مسلح مجاهدين فعال دي چي روزمره پرمورال بايللي دښمن دخرپ وترپ حملې کوي ،د دښمن دتګ راتګ په لارو کې ماينونه خښوي ،کمينونه ورته نيسي او په مختلفو ساحو کي دجګړې له لومړيو کرښو (کمربندنو)څخه دفاع کوي.

سربيره پردې دجهادي خطوطو څخه د دښمن څارنه کوي او دموقع څخه په استفاده تکتيکي حملې ورباندي کوي. په هلمند ولايت کې له جهادي محاذ څخه زمونږ دمشاهداتو په مهال به چي مونږ دمجاهدينو څخه د وضعيت پوښتنه کوله دوئ به د کمربند او خطونو يادونه

کوله مونږ فکر موکاوه چې هسې به یوځای دوې درې پوستې او مورچې وي دوئ به دکمربند اصطلاح ورته کاروي بالاخره دکمربند لید لوته ولاړو که ګورو چې هالته سم دم له یرغلګرو ځواکونو سره دمقابلې په ډګرکې مجهزې پوځې کرښې ایجادشوې چې ډیري زیاتې سیمې یې احاطه کړې اودواړو طرفونو په لسها وو مورچې اوخزې پکې جوړې کړې وې ،دورځې اوشپې پیرې پکې کیدلې ،همداډول کمربندونه په یوه ولسوالي کې نه بلکې په مختلفو علاقو اوولسوالیوکې موجودول چې دنمونې په توګه یې د سنګین ،واشیر،زمینداور، نادعلي ،اوکجکي ولسوالیو پوځي کرښې یادوو.

چې د دغو پوځي خطونو له جملې څخه داسې خطونه هم ول چې دتېرو پنځو کالو راهیسې مجاهدین هماله ته ځاې پرځای او د دښمن دېې شمېره هوایې او ځمکنیو بریدنو له شدت سره سره یې هغه تر خپلې ولکې لاندې ساتلې ول.

له مجاهدینو سره دولس همکاري ډیره زیاته وه هغه کلیوال چې د دوئ په سیمه کې د دښمن د پوځي مرکزونو له املې مهاجرت ته اړشوي او کورونه یې تخلیه کړې ول ،هغوئ ټول له دښمن څخه دانتقام په خاطر دمجاهدینو ترڅنګ ولاړ او له هغوئ سره یې پوره مرسته کوله وه دکمربند په ساحوکې مودهغو ولسي خلګو څخه چې خالي کورونه یې په همدې سیمه کې وو وپوښتل چې دجګړې لومړیو کرښو به ستاسوژوند ډیر تریخ کړی او له کړاونو ډک کړی وي !دوئ داسې ځواب راکړچې ټول یې حیران کړو.

دلته یوولسي سپین ږیری ووچې خبري موږ سره کولې نو موږې زموږ د یادي پوښتنې په ځواب کې وویل چې: یرغلګر دښمن زمونږ په کلیوالو سیمو کې پوځي مراکز جوړ کړل چې له املې یې مونږ د سیمې پریښودلو ته مجبورشولو او اوس یواځې دخپلو کورو نو اوزراعتي حاصلاتو د ساتنې لپاره له هرو پنځو او لسو کورونو څخه یوتن دلته دمحافظت په خاطر اوسو.

دښمن زمونږ کلیوالې سیمې په پوځي سیموراته بدلې کړې ، خو مجاهدینو په خپلو عملیاتو سره اوس زمونږ همدغه کلیوالې سیمې په ډیره اندازه سره د دښمن له واکمنۍ خلاصې کړې او الحمد لله تر ډیره حده یې د دښمن له تسلط او دهغوئ دشپنیو عملیاتو او چاپو له شره بېغمه کړي یو.

اوس مونږ خپله هم له مجاهدینو سره په ګډه د دښمن په پوځي مرکزونو بریدونه کوو او هغوئ نه پریږدو چې زمونږ کلیوته راشي.

که مجاهدین زمورږپراوږوباندي توپک راکښږدي اوپردښمن باندي ټکان کوي هم يې دځان لپاره افتخار بولو ، مجاهدینوته همیش وایو چي دښمن په قراره مه پریږدئ یوازي داځینې غواړو چي کله پردښمن دحملې کوي مورږخبرکړي چي خپل کوچنیان خوندي کړوځکه دښمن مورږاوتاسوته په یوه سترګه ګوري زمورږپه مال اواولادهم صرفه نه کوي ړانده هوانونه راغوځوي چي دځاني تلفاتو سربیره کورونواومالونوته موزیان رسوي ».

په کمربند کي یو سپین ږیري مجاهد کیسه راته کوله چي درې ساعته مي پرله پسې ددښمن مورچې څارلې چي که څه حرکت پکي ولیدل شوګوزاربه وروباندي کوم خوترپایه مي ددښمن څه حرکت ونه لیدیعني دښمن مورال داسي بایللی دی چي یوازي په خپلو قرارګاووکي ګوزاره لویه لاسته راوړنه ګڼي ، مجاهدین نژدې ورشي بریدونه وروباندي وکړي بیرته ترخپلو سنګرونوپوري ځانونه راورسوي خوددوئ له خواکوم پام ورغبرګون نه ترسترګو کیږي.

په نهرسراج کي په یومانده کي دکابل اداري داردوپر موټریزکاروان باندي پیښ شولوډیروارخطااوترهیدل ي معلومیدل مورږهم موټرودراوه که ګوروچي دهاخوا دملکي خلګودسپرلی یوبل موټرراغلی کیسه موځیني وپوښتل ویل یې چي طالبانودوه درې ډزه پروکړل نوکاروان یې ایسارکړګوره چي هغوئ به اوس دلته وي کنه خودوئ(اردو)دورتګ زړه نه شي کولای . دلته په نهرسراج کي دیرغلګرویولوی بیس و چي دخړپه قرارګاه مشهور ومجاهدین څه ځیني تنګ هم ووخودخدای جل جلاله نصرت وه چي همدادخړقرارګاه دشمن تخلیه کړه مجاهدین ډیرزیات ورته خوشحال وو ،ویل چي:« یرغلګروکډي بارکړي پاته شوني یې (دکابل اداري اجیراردواواربکیان) هیڅ هم نه شي کولای که خدای جل جلاله کول یابه پښې سپکوي یابه سرونه بایلي».

دهلمند ولایت مجاهدین مبلمه پال ،با استقامته ،مطیع او مینه ناک خلګ وو موږیې تقریبا د دغه ولایت پرتو لو ولسوالیو وګرځولو له خپلو موفقیتونو او ستونزویې خبر کړو ،د مشرتابه څخه ډیر خوشحال وو ،چې دوضعیت د معلومولو په موخه پلاوي ورته لیږي او وخت پروخت لازمي سپارښتني او هدایات ورته کوي .مجاهدینو په خپل منځ کي ډیر ښه اتفاق درلود چې پریوه سیمه به دښمن یرغل وکړنو رو مجاهدینو به یې دغوښتني څخه پرته دخپلو مجاهدینو مرستي ته ورداڼګل ، د مجاهدینو څخه موو پوښتل چې که په بله سیمه کي مجاهدین د دښمن سره لاس وګریوان شي تاسي همکاري ورسره کوئ !دوئ ویل چې ولي نه !چې دکومک غوښتنه راڅخه ونه کړي مرستي ته یې ورځو خو که همکاري راڅخه وغواړي بیا خو بیخي که دشپې وي که دورځي دخپلو مجاهدینو ملاتړ ته ورځو.

په ټوله کي دهلمند ولایت وضعیت کاملا د مجاهدینو په ګټه او دیرغلګر دښمن او داخلي ګوډاګیو په زیان دی ،د ب غران او بغني ولسوالي په یو مخیزه توګه حتی د ولسوالیو د مراکزو په شمول د مجاهدینو په واک کي وې او د پاته نورو ولسوالیو د مراکزو د وانیو څخه پرته زیاتره سیمې یې د مجاهدینو ترولکې لاندي وې د دغه ولایت په مختلفو ولسوالیو کي موپرله پسې په ساعتونو ساعتونو په موټرکي مزلونه وکړل خو د دښمن دوجود څرک هم نه پکي لګیده، په ځینو سیمو کي چې دښمن څه ناڅه شتون درلود پوستې مو یې له نژدې ولیدې دښمن دومره وارخطاووچې صرف ځان ساتني ته یې لومړیتوب ورکاوه نوریې په دې سر نه ګرځاوه چې مجاهدین څه کوي او چیرې ځي. په مفتوحه سیمو کي نه یوازي مجاهدینو پوځي تحرکات درلود ل بلکي ملکي اداري هم فعالي وې په تېره قضایې ارګان ډیر زیات فعال وو خلګو خپلې ستونزي او دعوې همدې ارګانونو نه راجع کولې او د اسلامي شریعت په رڼا کي یې د خپلو ستونزو حل ترلاسه کاوه.

لنډه دا چې په رسنیو کي چې وضعیت څه ډول تشریح کیږي واقعیت بیخي برعکس و د اسلامي امارت مجاهدین په پوځي او ملکي چارو کي ډیر ښه فعال ول،ولس یې له کړنو څخه خوشحال او پوره ملاتړیې کاوه او دښمن بیا ډیر زیات خوار او کمزوری و ،ټولې هڅې او حربې یې ناکامې شوې او دژوند ساحه وربانديې تنګه وه.

د غزني فدايي بريدونو کې ۱۰۹ بهرني اوکورني دښمنان قتل

ګڼ ټپيان ، ۲هليکوپتر، ۶ټانکونه او ۲۰ موټرويجاړ شول

دخالدبن وليد دعملياتو په لړ کې هغه بريدونه چې تيره ورځ مازديګر ۴ ځلوربجې د غزني ولايت په مهم خارجي مرکز (پي آر تي) باندې د ۱۳ تنو سربښندونکوفدايانو لخوا پيل شوی وو د شپې تر ۱۲ بجويې په شدت سره دوام ومونده . دغه۸ ساعتيز بريدونه په لومړي سر کې د دوو لارې موټروپه وسيله چې دواړه له منځپره موادونه ډکې وې پيل شول . يوه موټر دپي آر تي نظام قراول او امنيتي پوستې او خوب خوني له منيځه يوړي او دوهم موټر دپي آر تي ځنګ ته د داخلي مزدورو عسکرو دقرارګاه نظام قراول په نښه کړ . وروسته ۹ تنه فدايي مجاهدين وتوانيدل چې دپي ارتي انګړ ته ننوځي او داستخباراتي معلوماتو دفتر ، د توپچي برخه ، دولاړو څرخکوتم ځای يو وسلتون او ډيپو او نور تأسيسات تر کلکو او ويجاړونکو ګوزارونو لاندې ونيسي،دبريد له پيل نه لږ وروسته ۲ بهرنۍ هليکوپترې هم په پي آر تي کې کيښناستې چې سم لاسي دګوزار لاندې ونيول شوي او له سپرلۍ سره له منځه لاړې . دبريدونو په لړ کې چې ۸ ساعته روان وو دښمن دسر او مال درانه زيانونه وليدل . وروستي او کره معلومات . دفدايانودتليفوني اړيکو ، سيمينزو خلکو او خاصو راپورونو په اساس څرګندوي چې ۲۸ تنه بهرني افسران اوعسکر او ۲۱ تنه کورني عسکر ، جاسوسان او کارمندان دپي آر تي په دننه او د کورني عسکرو په قرارګاکې وژل شوي او ګڼ شمير نور ټپيان شوي دي ، څرخکې ، ۲۰ عرادې موټر ۶ زغروال ټانکونه مکمل ويجاړ شوي . ودانۍ . وسلتون او نور تأسيسات هم تردېره بريده تخريب شوي ،ددغو بريدونو دحمايې لپاره يوه دوهمه۱۵ کسيزه ډله دفاعيې مجاهدين هم له بهر خواڅخه دپي آر تي امنيتي پوستې تر بريد لاندې ونيوې چې ۲ پوستې يې فتحه کړې ۱۰ عسکر يې پکې ووژل او يو رينجرموټر يې له ګنو وسلوسره په غنيمت ونيو .دبريد په پای کې زمور۱۱ تنه فدايي مجاهدين او ۴ تنه دفاعي مجاهدين هم شهيدان شول (تقبلهم الله) او ۱۱ تنه دفاعي مجاهدين بيرته وتوانيدل چې له سيمې نه راووځي .

داسې بريدونه چې دې وروستيو کې يې شدت موندلی ښيې چې مجاهدين به ژر وکولای شي چې اشغالګر تيښتې ته اړباسي اوددوئ په ګوتوجوړه شوي اداره چې اوس هم لا دتزلزل په حال کې ده له نورې ولسي بې باورۍ سره مخ کړي .

۱۴۳۴/۱۰/۲۲ق

۱۳۹۲/۶/۷هـ ش 2013/8/29م

دعوت او ارشاد

د دعوت ، ارشاد، جلب او جذب کمیسیون د (اګسټ) د میاشتې تفصیلي راپور

د روان (۲۰۱۳م) کال د اګست په میاشت کي هم د تېرو میاشتو په شان د اسلامي امارت د دعوت ،ارشاد ،جلب او جذب کمیسیون په هڅو او د ځایي مجاهدینو په ملاتړ د افغانستان په مختلفو ولایاتو کي ۷۲۷ تنه چي د کابل اداري اړوند بیلا بیلو ارګ نونو کي په کار بوخت وو د حقیقو په درک کولو د دغه فاسد رژیم څخه راووتل او د اسلامي امارت د مجاهدینو سره یو ځای شول

د اګست پر لومړۍ نیټه د لغمان ولایت په مختلفو سیمو کي ۱۰ ته او د هرات په کروخ ولسوالۍ کي ۳ تنه ،میدان وردګ ولایت کي ۱ تن اربکی ،او د پکتیکا په ښرنه کي ۲ تنه عسکر د ښمن له لیکو څخه راجلا او مجاهدینو سره یو ځای شول.

د اګست پر ۲ مه نیته د ننګرهار په روداتو کې ۳ تنه عسکر ،د پکتیکا په یحی خېل کي یو اربکي قوماندان له یو ساتونکي سره ،او د فاریاب په ګریزوان ولسوالۍ کي ۳ تنه عسکر د مجاهدینو سره ملګري شول.

د اګست پر ۳ مه ننګرهار روداتو ولسوالې کې ۱ تن عسکر، پکتیکا مټاخان کې ۱ اربکی له مجاهدینو سره یو ځاي شو.

د اګست پر ۴ مه د بدخشان راغستان کې ۱ عسکر،

د ننګرهار ولایت د چپرهار ولسوالې کې ۱ تن ،او د کندهار په غورک ولسوالۍ کي ۳ عسکر ،د پکتیکا جاني خیل کې ۳ پولیس او یحی خیل کې 2 اربکیان له مجاهدینو سره یو ځای شول

د اګست پر ۵ مه د هرات په شیند ډنډ کي ۱ اربکی چي ۳ تنه ابکیان یې قتل کړي و ،او د ننګرهار د اچین ولسوالې باندر کلي او سېدونکي تورن راز محمد د اسلامي امارت مجاهدینو سره یو ځاي شو.

د اګست پر ۶ مه د پکتیا د زرمت ولسوالې کې ۴ پولیس او د فراه په بالابلوک کي ۱ دارد و عسکر د مجاهدینو سره ملګري شو.

داګست پر۷مه دهرات دشین ډنډ ولسوالي کې۲ تنه د اسلامی امارت له مجاهدینو سره یوځای شول.

داګست پر۸مه دکندهار ولایت دغورک ولسوالي کې۱ اربکی له مجاهدینو سره ملګری شو.

داګست پر ۹مه دفاریاب ولایت دقیصار ولسوالی کې ۳ته اربکیان له اسلامی امارت سره یوځای شول.

داګست پر۱۰مه دهلمند ولایت دخانشین ولسوالي کې۱ تن اربکی له مجاهدینو سره یوځای شو.

داګست پر۱۱مه د لوګر د کجې دکلي څلور تنه اوسیدونکي چې اربکیانو کې یې کارکاوه له مجاهدینو سره یوځای شول .دغه راز دفاریاب ولایت دقیصار ولسوالیکي ۸ تنه پولیس له فاسدی اداری راجلا شول او د اسلامی امارت له مجاهدینو سره ملګری شول.

داګست پر۱۲مه د جوزجان په قرقین کې۱۹ عسکر او پولیس ،دهلمند ولایت دمرجی ولسوالی کې۲ تنه اربکیان او پکتیکا خیرکوټ ولسوالی کې۱ تن اربکی له مجاهدینو سره یوځای شو .

داګست پر۱۳مه د پکتیا سیدکرم کې۴ عسکر ،د لغمان علیشنګ کې۱ عسکر او۱ اربکی له درې میله وسلې سره ،

دفاریاب ولایت دقیصار ولسوالي کې ۲ تنه، او دهلمند په هزاجفت کې ۱ عسکر د مجاهدینو سره ملګري شول.

داګست پر۱۴مه د لغمان دولت شاه کې ۵ عسکر ،دننګرهار په شیرزادو ولسوالي کې ۱۵ تنه عسکر ،دکندهار د ډنډ ولسوالی کې ۱ تن چې په سکوټیانو کې یې کارکاوه او دهلمند دګرشک ولسوالي کې۱ تن عسکر له فاسدي اداري څخه راجلا او د مجاهدینو سره ملګري شول.

داګست پر۱۵مه د پکتیا په سیدکرم کې۱ پولیس ،دننګرهار ولایت د هسکې مېنې ولسوالي کې۱۲ تنه عسکر او

دبادغیس ولایت دمرغاب ولسوالي کې ۲تنه عسکر او پکتیکا جاني خیل کې ۳۳عسکر د افغانستان اسلامي امارت له مجاهدینو سره یوځای شول.

داګست پر ۱۲مه د بغ ار په اشکمش ولسوالی کې ۳ عسکر ،دپکتیا احمدابادکې ۲عسکر ،دروزګان ولایت چورې ولسوالی کې۱ تن ،دهلمند په سنګین کې۱ تن او دهرات په شیندنډ کې ۱تن عسکر د مجاهدینو ملګری شو.

داګست پر ۱۷مه د بغ ار د کلفګان ولسوالي کې ۸ تنه عسکر،دپکیتا احمدابادکې ۱پولیس ،دپکتیکا مټ خان کې ۲ اربکیان او دفاریاب دقیصار ولسوالی کې ۷تنه عسکر د کابل له فاسد حکومت څخه راجلا شول او دامارت سره یوځای شول.

داګست پر ۱۸مه ۵۰ تنه عسکر دباغس ولایت دابقمری ولسوالی دنرود کلي او سیدونکی له دروراکیتو اودرو ثقیلانو اوځلور ځلوینښت کلاشنکوفو سره دکابل دبلواک رژیم څخه رابیل او اسلامي امارت سره یوځای شول. دغه رنګه پرهمد پ نیټه دننګرهار په چپرهارکې ۲ تنه عسکر ،اولعل پورې ولسوالي کې۱۲ تنه عسکر له اسلامي امارت مجاهدینو سره یوځاي شو .دامارت دجلب جذب مسؤلینو اوځایی مجاهدینو ددوی ډیر تود هرکلی وکړ

داګست پر ۱۸مه د بلخ چمتال کې ۳ اربکیان ، تخار د بهارک ولسوالی کې ۸ عسکر،پکتیکاا ورممی ولسوالی کې۲اربکیان او جاني خیل کې۱اربکی دا سلامي امارت له مجاهدینو سره یوځای شو.

داګست پر۱۹مه د پکیتکا یحی خیل کې ۱اربکی ،وازیخوا او یوسف خیلو ولسوالیو کې ۲ عسکر ،دننګرهار ولایت د حصارک ولسوالی کې ۸ تنه عسکر ،دکندهار په معروف ولسوالي کې۱تن ، اودروزګان ولایت دچوری ولسوالي کې۱تن پولیس اودپکتیکا یحی خیل کې۱اربکی له مجاهدینو سره یوځای شو.

داګست پر ۲۰مه د لوګرخوشي کې ۳تنه دعسکر،د پکتیکا سروبي کې ۳ اربکیان اودارزګان ولایت دهراودولسوالی کې ۲ تنه هریو قومي مشر ملک عبدالشکور خان اومیر عبدالراق له فاسدی اداری راجلاشول اودا سلامی امارت ملګری شول.

داګست پر ۲۱مه دننګرهار په ده بلاولسوالي کې ۱۰ تنه عسکر او دکندهار ولایت په معروف ولسوالي کې ۲تنه عسکر او پکتیکا جاني خیل کې ۱عسکر له مجاهدینو سره یوځای شو .

داګست پر ۲۲مه دپکتیکا تروه ولسوالی کې د جاسوسي اداري ۵ عسکر او ۳ پولیس اودهرات ولایت دادرسکن ولسوالی کې یو قوماندان له یوه عراده رینجر موټر اویوه میل سقیل ماشید اراوپنځه میله کلاشنکوفو اویوی پایی مخابری سره مجاهدینو ته تسلیم

شودمجاهدینو لخوایه تودهرکلی وشو اوپه ډیر لوړوجائزو سره ونازول شواوده دغه شعوری اوعقلمندانه اقدام یې وستایه.

داګست پر۲۳مه د لوګرازره کي ۱تن عسکر،دخوست په موسي خیلو ولسوالی کې ۲ عسکر ،دننګرهارپه اچین ولسوالی کي ۲ تنه اوروداتوکي ۲تنه عسکر ،او دفراه ولایت دبالابلوک ولسوالی کي۱تن پولیس له مجاهدینو سره یو ځای شو.

داګست پر ۲۳مه قوماندان شفیع له ۳۰ کسانوسره دمیدان وردګ و لایت دجلریز ولسوالی دتنګی ټپکلي کي د کابل دفاسد حکومت له لیکو راجلاشو اوداسلامی امارت له مج اهدینو سره ملګری شو ،نوموړي ته مجاهدینو ښه راغلاست ووایه اوډیریې وستایه.

داګست پر ۲۴مه د پکیتا مرکزته څېرمه ۱عسکر ، د لغمان علیشنګ کې ۱۰تنه عسکراودغزني دګیلان په ولسوالي کي۲تنه اربیکان دمجاهدینو سره ملګری شول.

داګست پر ۲۵مه د بامیان په کهمردولسوالی کې ۳ داوردو عسکر ،د پکیتا ځاځي اریوب کې ۳اربکیان ،اودروزګان ولایت دمرکزاړوند۵تنه عسکرددووقوماندانانو په شمول داسلامی امارت له مجاهدینو سره یوځای شول.

داګست پر ۲۲مه ۱۵ته اربکیان دفاریاب ولایت دقیصار ولسوالی کي دکابل له اجیررژیم څخه راووتل اوداسلامی امارت ترقیادت لاندی یې خپل هوسا ژوند پیل کړ.

داګست پر۲۷مه۷تنه عسکردروزګان ولایت په مرکز کي دفاسدی اداري څخه راووتل اوداسلامی امارت سره یې ملاتړاعلان کړ.

داګست پر۲۸مه اووه اتیا۸۷تنه داوردواوپولسو او ربکیانو له جملې څخه دسرپل په ولایت کي دمختفوولسوالیواوسیدونکي دکابل دفاسد حکومت له لیکو راجلاشول اوداسلامی امارت له مجاهدینو سره ملګری شول.دغه رنګه پرهمدې نیټه دکندهارولایت دخاکریزولسوالی کي ۳تنه دکابل اداري همکاران دمجاهدینو سره ملګري شول.

داګست پر ۲۹مه ۱۴تنه دمیدان وردګ ولایت دمرکز دجندی خیلو اودرانی دکلیو اوسیدونکي دکابل دبلواک رژیم څخه رابیل اوا سلامي امارت ملګری شول.دوی ژمنه وکړه چي نوربه داسلامي امارت سره خپله همکاري کوي. دغه رازپرهمدې نیټه دزابل ولایت په بیلابیلوولسوالیوکي۵تنه دکرزي داداري څخه راوتلل اودمجاهدینو سره ملګري شول.

داګست پر ۳۰مه شل(۲۰) تنه پولیس اواربکیان دغور ولایت ده دولینی ،شهرک اوشنکوټ ولسوالیو په مختلفو کلیو کې دفاسدیاوګوډاګي اداري څخه راووتل اوداسلامی امارت له مجاهدینو سره ملګری شول.

داګست په بیلابیلوورځوکې دکونړ د مختلفو ولسوالیو نه د اجیرې اوردو پولیسو اربکو نه ۲۰۰ تنه داسلامي امارت له مجاهدینو سره یوځای شول.یادشوي حکومتي چارواکي چې په مختلفو برخو کې دندې ترسره کولې د دعوت او ارشاد کمیسیون د دعوت په نتیجه کې مجاهدینوسره یوځای شول او دمجاهدینو له لورې یې ښه استقبال وشو.

داګست پر۳۰مه نیټه دهلمندولایت په موسی کلا ،نوزاداو سنګین ولسوالیوکې ۳۴تنه چې دکابل اداري په مختلفوارګانونوکې یې کارکاوه ددغه ګوډاګي رژیم څخه راوتلل اوداسلامي امارت سره یوځای شول.

دکابل اداري څخه راجلاشوو۷۷تنوچې داسلامي امارت له مجاهدینوسره یوځای شول ، مختلفه النوعه لوبې اووړې وسلې ،مخابرې ،موټرسایکلونه ، ۲عرادې رینجرموټراویوزیات شمیرمهمات مجاهدینوته وسپارل.

دوی دامارت سره وعده وکړه چې نوربه دخپل ددین اووطن دخارجي اوداخلي مزدورانوسره هیڅ رازتعلق نه ساتي ،دخپل مظلوم ولس اومجاهدینوورونوسره به همکاري کوي ،ترڅولوی خدای جل جلاله ژرترژره زموږله ویاړلې خاوري څخه دکفر،فسق ،،اشغال ،فحشاءاوګمراهیو کرغیړن ټغرټول کړي اودمسلمانانودخوښي یوسوچه اسلامي واکمني رامنځته کړي چې دټول افغانان پرې راټول شي.

داسلامي امارت ددعوت ،ارشاد ،جلب اوجذب کمیسیون مشرتابه دوی ته هرکلی ووایه ،انعامونه اوجایزې یې ورکړې اوددوی همدانیک اقدام یې ډیروستایه چې دیرغلګرواولاسپوڅي رژیم څخه یې راووتل اوداافغانستان اسلامي امارت دمجاهدینوسره یې خپل پیوستون اعلان کړ.

شهيدي قافلې

شهید عبدالحمید اخندزاده

شهید عبدالحمید اخندزاده د مولوي عبدالکریم زوي ، د ورګو ولایت د سیدآباد ولسوالۍ د تنګي د کامر انخیلو اوسیدونکی وو.

نومورې په (۱۳۴۷ ه ش) کال د بناغلي مولوي عبدالکریم صاحب په دینداره او مجاهد پروره کورنۍ کې زیږیدلی وو.

پر شهید عبدالحمید اخندزاده لا د خپل عمر لس پسرلي نه وو تیر سوي چې پلار یې دیني زده کړو ته وقف کړ، په خپل کور او د کلي په مسجد کې به یې دیني زده کړې ترسره کولې. کله چې روسي یرغلګرو پر هیواد یرغل وکړ، د نومورې پلار مولوي صاحب هم د نورو هیوادوالو په څیر ګاونډي هیواد ته هجرت وکړ. د مهاجرو په یوه پنډغالي کې یې د دیني زده کړو تر څنګ عصري زده کړو ته هم مخه کړه.

خو چې د روسي نیواکګرو په خلاف د هیواد مؤمن اولس په مبارزه لاس پورې کړ ، دا مهال نومورې ۱۷ کلن زلمی وو ، په همدې تاند عمر کې د پکتیا ولایت ته راغی ، له مجاهدینو سره یوځای سو. د دښمن په وړاندې یې کلکه مبارزه پیل کړه. دوخت په تیریدا سره یې د مسؤلینو په زړونو کې ښه ځای پیدا کړ. ور سره په همدې جهادي دوره کې دوه ځله زخمي سو. یوځل په (۱۳۶۸ هش) او بل ځل د روسانو د وتلو په مهال په لوګر کې، همدارازد ګلم جم قواوو لخوا یوځل اسیر سوی هم وو چې له سختو شکنجو وروسته ژوندۍ راخلاص سو. خو له دې ټولو ربړو او تکلیفونو سره سره یې بیاهم سپیځلي مبارزې ته دوام ورکړ.

د روسي یرغلګرو له وتلو وروسته چې د جهاد او مجاهدینو د بدنامۍ په خاطر ځینې عناصر د کفارو په لمسون راپورته سول، په هیواد مطلق ملوک الطوائفي مسلطه سوه او د همدې فتنې د له مینځه وړلو په موخه د طالبانو اسلامي تحریک پیل سو. شهید عبدالحمید اخندزاده هم په نومورې نظام کې شامل سو. د اسلامي امارت په دوران کې د هیواد په مختلفو سیمو کې په خدمت بوخت وو، وروسته چې کله د امریکایانو او د هغوي د متحدینو یرغلګرو له راتګ وروسته یوځل بیا منظم جهاد پیل سو. شهید عبدالحمید صاحب هم په عملي جهاد

پیل وکړ چې زیات شمیر نوي ځوانان او هم پخوانې مجاهدین یې په خپل جهادي صف کې وروزل ، نوموړی به دخپلو مجاهدو ملګرو په مابین کې د ډیر احترام په وجه د کاکا ، یا د مشر اخندزاده په نوم هم یادیدی . البته د مخابرې نوم یې کامران وو

بالاخره له زیاتو غزاګانوو وروسته په ۱۳۹۰ هش کال د رمضان المبارک په ۷ د شپې پر ۱۱ بجې د صلیبي پر غلګرو په هوائي او زمیني چاپه کې له یوځه مقاومت وروسته د نورو پنځو ملګرو (ملافریداحمد، نصیب احمد، ګل نبي اخندزاده ، روح الله او احمدشاه) سره یوځای د شهادت لوړ مقام ته ورسید. روح دې یې بناد او یاد دې یې تل وي. انالله وانا الیه راجعون

په همدې وخت کې نور شاوخوا ورسره مجاهدین په تکتیکي توګه خواره واره سول او د پر غلګرو نورې قواوې چې سیمې ته د راتلو په حال کې وې ، د همدې شهیدانو له شهادت څخه نیم ساعت وروسته د امریکایانو د خاص ګارډ او هغه ځانګړې ځواک - چې د پاکستان په ایبټ آباد کې د شهید شیخ اسامه بن لادن د کور په چاپه کې هم کار ورځخه اخیستل سوی وو - یوه چینوک ډوله الوتکه د ملا حبیب مجاهد د راکټ لانچر د مرمۍ خوراک سوه . او په درجنونو پر غلګر په کې له مینځه ولاړل.

شهید حاجي حمیدالله

شهید حاجي حمیدالله د حاجي مولوي احسان الله (مشهور په مولوي بور) زوی د حاجي اغاجان لمسی د هرات ولایت د ګلران ولسوالۍ د طوطچي د کلي اوسیدونکی وو.

نوموړی په ۱۳۵۶ هش کال د حمل دمیاشتې په لمړۍ نیټه د اسحاق زو د قوم په یوه دینداره او متدینه کورنۍ کې زیږیدلی وو

لکه څنګه چې شهید حاجي حمیدالله د ښو اخلاقو او نیکې رویې څښتن وو، همدارازالله تعالی وربانډي ښه او خوشاله قیافه لوروليې وه ، د ملګرو ، کورنیو ، او عامو خلګو په زړونو کې یې ژور ځای درلود

د اسلامي امارت په مهال یې په بادغیس ولایت کې د درې بوم ولسوالۍ د قمندان په حیث دنده تر سره کوله . ورسره د فاریاب ولایت د بندر او لولاش په ولسوالیو کې همدارازد سرپل په ولایت کې د کمربند مسؤل وو . د صلیبي پر غلګرو له راتګ سره چې په ټول هیواد کې د مجاهدینو له لوري پر دښمن وسلوال او چریکي بریدونه پیل سول. شهید حاجي حمیدالله هم د نورو مجاهدینو په څیر په مختلفو سنګرونو کې د صلیبي پر غلګرو او د هغوي د ګودااګیانو په وړاندې مبارزه پیل کړه، لمړی د هلمند په مارجه . نادعلي او ناوه کې

.ورپسي د نيمروز په دلارام، د هرات په شيندند او گلران ولسوالیو کي دندې ترسره کړې . د هرات ولايت په گلران ولسوالي کي د دښمن له لوري يوځل ژوندی ونيول سو، له يوځه مودې بند تيرولو وروسته يې ترې راخلاص او په پوره متانت يي د جهاد گرم سنگر ته مخه کړه، چې بالآخره د گلران په ولسوالي کي په شهادت ورسيد. انالله وانا اليه راجعون

شهيد ملاعبيدالله (حسن)

ملاعبيدالله حسن د حاجي ملامحمدافضل (عمر) اکازوي دارزگان ولايت د دهراؤدد کاريز د کلي اوسيدونکي، د نورزو د قوم ديوې جهاد پالي کورنۍ غړی وو. دی هم د ابتدايي دورې ۲۱ کلن طالب وو، لمړی يي د هلمند په انارک کي تقريباً دوه کاله سبقونه وويل له هغه سره سره به ديوه سيميز قمندان مجاهد(قهار زبير) په محاذ کي له مجاهدينو سره جهاد ته روان وو. د وروښو (ملانعمت الله او ملاحبيب الله له شهادت وروسته) د ملاعبدالولي اخند محاذ ته راغی د خپل مشر ورور مسؤليت ور له غاړې سو، داچې دی د ديوه بنه سلف پر ځاي پاتي وو ؛ نو پر اولس او مجاهدينو ډير گران وو او ده ته هم الله تعالی ډير بنه ظرافت ورپه برخه کړی وو.

نوموړی د خپل شهيد ورور ملانعمت الله (حسن) په څير ديو ډير خوارۀ طبيعت څښتن وو. د خلگو په زړونو کي يي بنه ځاي درلود. تردې چې کله به هم لکه ملانعمت الله د چاکور ته ورغی ؛ نو د دې پرځاي چې د ميلمه په کوټه کي يي کښينوي، د خپل کور په خونه کي به يي له ځان سره کښيناوو، ترڅو دښمن د ميلمه گمان ورباندې ونکړي.

شهيد ملاحبيب الله په يوه داسي جهادي کورنۍ کي زيږيدلی وو. چې د ده په شمول له نوموړې کورنۍ څخه شپږ تنه شهيدان د الله تعالی پر دين قربان سول.

دورور له مرگه تقريباً ۱۷ مياشتې وروسته دی هم په شهادت ورسيد. دامهال (۲۰۱۰-۸-۱۵) نيټه وه.

